زرین څاڅکي

انسان - عرفان - خدای

لیکوال: واصف علي واصف

ژباړن: رحمت شاه فراز

کابل؛ ۱۴۰۳لمریز

له deenodanish.com څخه ښکته شوی

بسم الله الرحمن الرحيم

کتاب پېژندنه:

کتاب: زرين څاڅکي

لیکوال: واصف علي واصف

ژباړن: رحمت شاه فراز

ډیزاین: انجنیر محمدافضل ذاکر 0785695700

د پوښتې ډیزاین: جمعه خان نائل

پاڼو شمېر: ۸۰ مخه

کچه: A5, 14×21cm

چاپلړ: لومړی، ۱۴۰۳ل

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د خپرونو لړی: دولسم

خپرندوی: نوی بیت العلم خپرندویه ټولنه

Contact & WhatsApp: +93 74 852 5091

Email: newbaitulilmbookstore@gmail.com

Facebook & Instagram: نوی بیت العلم خپرندویه ټولنه

پته: د برېښنا ریاست ته مخامخ، محب زاده مارکیټ، دهمزنګ، کابل - افغانستان

د دې کتاب ټول حقوق له نوی بیت العلم خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سریزه

له سریزې مراد دا نه دی، چې د دې کتاب موخه بیان شي. کتاب خپله موخه پخپله بیانوي. او دې کتاب ته کتاب ویل څومره مناسبه ده، لوستونکی به یې پخپله قضاوت وکړي. په اصل کې دا د روحي نشاط یو څو غوټې دي، چې د طریقت له ګلستانه ګلچین شوې او د احساس اصلاح کېدل پرې شونی دی. دا «فیض» دی د یو چا د سترګو او «فیض» زما دعوا نه ده، یوازې د عقیدت اظهار دی، هغو صاحبِ حال ته چې په تقرب کې یې د زړه خبره د بې نیازۍ خبره ګرځي. صاحب حال څوک دی؟ د دې بیان مشکل دی.

حال، د جذب او سلوک منځنی حالت دی. صاحبِ حال په یوه وخت کې سالک هم دی او مجذوب هم. دی خپل ځان د ژوند او کایناتو سبب هم بولي او مسبب هم. په خپله مستي او کیف کې کله رنګ بې رنګه وینې او کله بې رنګ، رنګین ور ښکاري. صاحبِ حال د کیفیت په هغه مقام کې وي، چې هلته تحیر هم وي او شعور هم، هلته جنون هم وي، آګاهي هم. د صاحبِ حال په وړاندې ماضي، حال او مستقبل ټول یوه زمانه وي. صاحبِ حال د څیزونو او نومونو له معناوو او مفاهیمو سره اشنا وي. هغه له منظرو څخه ښکلا ور ټولوي او د خیال ناوې پرې سینګاروي او د هغه سفر لاروی وي، چې هلته پخپله سفر د سفر مدعا وي. دی د خپل ذات په تلاش کې ورک، د علم له چینو تېرېږي او د ځان پېژندنې یوې داسې وحشتناکې دښتې ته رسېږي، چې هلته نه فراق وي، نه وصال، نه یې خپل وي، نه پردی. صاحبِ حال له

له deenodanish څخه ښکته شوی

ممکن او ناممکن خلاصون مومي. له چوپتیا سره ګویا وي. د ذراتو د زړه درزا اوري. سترګې یې د وجود او موجود په باطن کې وي. په څاڅکي کې سمندر او په ذرې کې صحرا ویني. هغه زاغ او طاووس د یوې نندارې صورتونه ګڼي. د حقیقت او خوب په اړیکو غور کوي. هغه پوهېږي، چې په خوب کې خوب، خوب ګڼل پخپله د حقیقت د پېژندو ابتدا ده. هغه د ذات او صفات په تعلق نظر ساتي. هغه پوهېږي چې څرګند به په هر حال کې له پټ سره اړیکه پالي. صاحبِ حال له ژونده د مرګ اګاهي ترلاسه کوي او له مرګه د ژوند شعور. هغه پوهېږي، چې ژوند د مرګ په حفاظت او پناه کې نغښتی. صاحبِ حال پخپله وروستۍ پوښتنه ده او پخپله د هغه وروستی ځواب. هغه بې سببه خاندي، بې جوازه ژاړي.

صاحبِ حال له حال پرته نه شو درک کولی. د صاحبِ حال، قال هم حال وي، د هغه خاموشي هم حال وي، د هغه قرب حال پیدا کولی شي، هغسې چې د اور نږدېکت په اوسپنه کې د اور صفت پیدا کولی شي. صاحبِ حال له نعمته، منعم ته مخ اړوي. هغه په مصیبت کې هم د رضا نندارې لټوي. په هر حال، صاحبِ حال په خپل وجود کې له ځان پرته هم موجود وي. دلته د صاحبِ حال تعریف هدف نه دی، هدف یوازې دومره دی، چې د صاحبانِ حال نظرِ فیض ته د عقیدت له مخې دغه کتاب ستاسو مخې ته ږدم. ښېګڼه یې د هغوی فیض، نیمګړتیا یې زما بشري غفلت. په دې کتاب کې تسلسل نه زما هدف دی، نه یې امکان.

کېدلی شي او زیاتره داسې کېږي، چې په یوه وخت کې دې یوه خبره ربښتیا وي او په بل وخت کې دې د هغې برعکس خبره هم هماغومره ربښتینې وي. پر ځمکه، سپوږمۍ د رڼا یوه نندارې ده، خو چې سپوږمۍ ته ورشې، سپوږمۍ بې نوره ده.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په صداقت کې تضاد یا پراډاکس د صداقت نفي نه ده. د صداقت ضد یوازې باطل دی او تر ټولو لوی صداقت دا دی، چې په دې کاینناتو کې د باطل اصلاً وجود نشته. شپه صداقت ده، ورځ هم صداقت. ژوند حق دی، مرګ هم حق، زه او ته، ته او زه، ټول سره حقیقت، حقیقت یو. د حقیقت شتمني، د حقیقت نېستي، د عمل خیال، د عمل عیب، تدبیر، تقدیر ټول صداقتونه دي.

په اصل کې د صداقت تعریفول هم مشکل دی. یوازې همدا ویل کېدی شي، چې صداقت د صادق وینا ته وایي. همدا تر ټولو لوی راز دی. همدا عجیبه نکته ده، چې د انبیاء علیهم السلام صداقت تر دې بریده معتبر وو، چې خلکو یې په خبره له تحقیق او پېژندو پرته خدای ته غاړه کېښودله. همدا تسلیمي د پیغمبرانو اصلي معجزه ده. په اصل کې ایمان، په شخصیت د اعتماد نوم دی.

زما چې په چا اعتبار وي، د هغه خبره معتبره ده. په دې کتاب کې هم همداسې ځینې معتبرې خبرې ستاسو مخې ته ږدم. و دې شي چې له دې پرته یا د دې برعکس خبرې هم تاسو ته معتبرې ښکاره شي. علم، یو اندازِ نظر دی. انداز چې بدل شي، منظره ورسره بدلېږي. منظر او پسِ منظر زمورِ د نظر نومونه دي. مورِ د پاچاهانو حالاتو ته تاریخ وایو، حال دا چې تاریخ د ولس د حالاتو نوم هم دی. مؤرخ که بدل شو، تاریخ به هم بدل شي. د پرون ورځې غرور د نن ورځې خجالت دی. د نن ورځې ویاړ څوک پوهېږي، چې کله پښېماني وګرځي.

مدعا دا ده چې دغه څو خبرې چې ستاسو په خدمت کې دي، دا زما د فکر انداز دی. دا ورکړه ده او ورکړه د تسلیمېدو احساس دی. تسلیمي زما خپله ده.

په دې کتاب څه ویل نه غواړم، له وختـه مخکـې د لوسـتونکي نظـر متـاثره کول ښه هم نه بولم. د همدې لپاره د ځان په اړه نور هیڅ هم نه وایم، یـوازې دا چې لیکنه پخپله د لیکوال پېژندنه وي.

واصف علي واصف

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ستاسو ربښتینی ملګری او ستاسو واقعي تشخص ستاسو دروني انسان دی. همدا به عبادت کوي او همدا بغاوت، همدا به دنیاداره وي او همدا اخرت داره. همدا دروني انسان به د سزا او جزا مستحق ګرځي. پربکړه ستاسو په لاس کې ده. ستاسو باطن ستاسو تر ټولو غوره ملګری دی او همدا مو بدترین ملګری. تاسو پخپله د ځان لپاره د سفر مشکلات یاستئ او پخپله د هدف خوشالي او ښېرازي. باطن چې خوندي شو، ظاهر به هم خوندي شي.

☆☆☆

ایمان زمور فکر اصلاح کوي. د شکونو او شبهاتو نفي کوي. له زړونو وسوسې شړي. ایمان په غم او خوشالي دواړو کې مور خدای ته نږدې ساتي. مور په هر ازمایښت کې بریالي کېږو او پوهېږو چې د خوشالیو را کوونکی مو د غم په شتمني هم نازولی شي. الله تعالی خپل بندګان د یقین له شتمنی، نه بې برخې کوي.

☆☆☆

د اسلام له منلو وروسته که څوک دا دعوه کوي، چې دی پر نورو مسلمانانو لوړاوی لري، غلط یې وګڼئ. خپل فضیلت د فضیلت په توګه بیانول پخپله د فضیلت نفي ده، د انسان کم ظرفي ده، ناپوهي ده. اصل فضیلت خو نورو ته فضیلت ورکول دي، هغسې چې په خپل علم کې د نورو را شریکول علم دی. که نه، په علم نور خلک په ځان را ټولول او د کمترۍ په احساس اخته کول خو ناپوهي ده.

☆☆☆

د یوه انسان د کم ظرفي لپاره همدا بسنه کوي، چې په خپله خوله د ځان ستاینې ته مجبوره وي. له نورو خپله ستاینه اوربدل مستحسن کار نه دی او په خپله خوله خپله ستاینه عذاب دی.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

عافیت په دې کې نه دی، چې مورږ دا معلومه کړو، چې په کښتۍ کې غار څوک کوي، عافیت په دې خبره کې دی، چې کښتۍ تر ساحله ورسېږي.

☆☆☆

نور هېڅ پیغمبر هم نړۍ ته نه راځي. نو د دین د تبلیغ ستر مسؤلیت زمورږ تر غاړې دی. د ځان له اصلاح وروسته دې همدا امت نړۍ اصلاح کړي.

☆☆☆

چا چې د دین په نوم خلکو ته دوکه ورکړه، عاقبت یې د اندېښنې وړ دی، په دې چې عاقبت په دین کې دی او په دین کې دوکه نشته. که دوکه وي، بیا دین نشته.

☆☆☆

څوک چې د دې لپاره د ځان اصلاح کوي، چې په دنیا کې یې تعریف او عزت وشي، اصلاح به یې ونه شي. په دنیا کې د خپلو نېکیو بدل غوښتونکی نېک نه شي کېدلی. ریاکار هغه عابد ته ویل کېږي، چې غواړي په خپل عبادت نړۍ په ځان ور ماته کړي.

☆☆☆

تر څو مو چې د رښتیني پیغمبر صلی الله علیه وسلم په رښتینولۍ باور نه وي، د توحید تصدیق مو هم نه شي کېدلی.

☆☆☆

د انسان اصل جوهر رښتینولي ده، رښتینولي د مصلحتونو قرباني نه شي کېدلی. د رښتینولۍ د اظهار په وخت کې خاموشه پاتې کېدل انسان له رښتینولۍ بې برخې کوي. هغه انسان ته صادق نه شو ویلی، چې د صداقت

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په اظهار کې له ابهامه کار اخلي.

☆☆☆

دانا، د نادانه اصلاح کوي، عالم د بې علمه او حکیم د ناروغانو. هغه حکیم به څه علاج وکړي، چې له ناروغ سره یې مینه نه وي. په همدې ډول هغه مصلح چې له ګناهګارانو کرکه کوي، د هغوی به څه اصلاح وکړي. هر صفت غواړي په خپل مخالف صفت اثر وشیندي، خو په نفرت نه، په مینه.

☆☆☆

که د ژوند د ژغورلو بیه ټول ژوند هم درنه وغوښتل شي، انکار ترې ونه کړئ.

☆☆☆

باطن یو علم دی، چاته چې ورکول شو، هغه ورته باطن نه وایي، بلکې ظاهر یې بولي. علم له باطن څخه ظاهر ته راځي. په همدې ډول هغه غیب چې علم یې ترلاسه شي، هغه غیب نه بلل کېږي. غیب هغه دی، چې علم یې بنده ته نه ورکول کېږي. یوازې له رب سره وي. د دغه ډول غیب تذکره هم نه شي کېدلی او د الله لپاره هېڅ غیب نشته.

☆☆☆

هغه انسان چې په ژوند او عقیده کې یې واټن وي، منافق دی. دغه ډول شخص نه ګناه پرېږدي نه عبادت. خدای د هغه لپاره ټولنیزه یا سیاسي اړتیا وي، نه دیني. د دغه ډول انسان لپاره د ناهیلۍ او دوامداره کرب، عذاب دی.

☆☆☆

پر غیریقیني حالاتو وعظ کوونکي، په څومره یقین د خپلو کورونو په جوړولو بوخت دي!

☆☆☆

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مورِ یوازې په ژبه الله، الله وایو. الله لفظ نه دی. الله اواز نه دی. الله غږ نه دی. الله خو ذات دی، مقدس او ماورا! له هغه ذات سره د زړه اړیکه ده، د ژبې نه. له الله سره چې د زړه تعلق جوړ شي، نو اړینه ده، چې ټول وجود مو د دین قالب ته برابر شي.

☆☆☆

ښځه او میړه باید د باغ او پسرلي غوندې ژوند وکړي. هغه به څه باغ وي، چې له پسرلي سره اشنا نه وي او هغه به څه پسرلی وي، چې په باغ ټبر نه شي. دا د هغه له برکته دی، هغه د ده له امله!

☆☆☆

که الله تعالی د خپل رحمت په جوش کې مخلوق وښنې، نو څه به وشي؟ د مرګ نندارە له مړینې وروسته؟ آیا الله تعالی په بښلو وسي نه دی؟

☆☆☆

انسان حادث دی، الله قدیم! حادث، د قدیم د مقام و مزاج خبر دنیا ته ورکړ. یا به داسې ووایو، چې قدیم د حادث په مټ د خپل ځان په اړه نړۍ خبره کړه. ــ حادث او قدیم په کوم مقام کې د یو بل په اړه په پوهېدو پیل کوي، په دې پوهېدل ډېر مشکل دی، او په همدې پوهېدل ډېر مهم او اړین دي.

☆☆☆

پخوانیو پاچاهانو د فیل په سورلۍ د خپل شاهانه عظمت څرګندونه کوله. نن ورځ زمور ماشومان په ژوښونو کې د فیل په سورلۍ خپله ساتېري کوي.

☆☆☆

د ربښتوني انسان لپاره دا کاینات عین حقیقت دی او د دروغجن لپاره همدا کاینات د حقیقت پرده ده.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

د عقاب او وحشي۔ مرغانو په شتون سربېره، د مرغانو بچونې را لويېږي. طوفانونه ټولې ډيوې نه شي خاموشه کولی. زمري غورېږي او د هوسۍ ښايسته کبلي له خوشالۍ خپله مستي کوي. دا ټول د هغه ذات چارې دي. د هغه خلق کړي مخلوقات له خپلو ټاکلو تګلارو څخه تېرېږي. فرعون ټول هلکان ووژل خو يو ماشوم وژغورل شو. دا ټول د هماغه ذات کارونه دي. زمانې پرمختګ کړی دی. ميا‌شي او موړکان اوس هم پيدا کېږي. ميکروب وژونکې دوا هره ورځ نوي ميکروبونه پيدا کوي. د ختيځ او لويديځ طب خورا ډېر پرمختګ وکړ، مرضونه هم ورسره زيات شول، انسان پرون هم غمجن وو، نن هم هوسا نه دی. علاج د خالق په قرب کې دی. خلک ولې نه پوهېږي؟

☆☆☆

رزق يوازې همدا نه دی، چې په جېب کې دې مال وي، د سترګو بينايي هم رزق دی. په ذهن کې خيال هم رزق دی. د زړه احساس رزق دی. په رګونو کې وينه رزق دی. دا ژوند يو رزق دی او تر ټولو ور اخوا، ايمان هم رزق دی.

☆☆☆

بنده يا له وېرې او يا د شوق له امله رب ته رجوع کوي. په دې دنيا کې وېره او خوف وخت په وخت پيدا کېږي او خلک د مرستې لپاره خدای ته ور غږ کوي. شوق ازلي پېرزوينه ده. شوق د نصيب خبره ده. داسې يې هم ويلای شو، چې ځينې خلک د دې لپاره خپل رب لټوي، چې وران کارونه يې ور ودان کړي او اهلِ دل بيا د دې لپاره د رب قرب غواړي، چې ارامتيا يې په برخه شي، سکون يې ترلاسه شي، اطمينان ته ورسېږي. د خوف عبادت يو شی دی او د شوق بل شی.

☆☆☆

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هغه شخص چې د ټولو خیر و ښېګڼه غواړي، رب د هغه خیر و ښېګڼه ګوري. چا چې مېلمنو ته خپلې دروازې پرانیستې، هېڅ کله نه دي محتاج شوي.

☆☆☆

توبه چې قبوله شي، د هغې ګناه یاد هم ورسره ختم شي.

☆☆☆

د الله د محبوب ص محبت الهي ورکړه ده. له دې مقدسې هستي سره مینه اصلاً د ایمان اصل دی.

دین له محمده ص پرته نور هېڅ هم نه دی

د دین یوازینی معیار همدا دی بس

په عشقِ محمد کې فراق هم پېرزوینه ده او وصال هم. له نبي کریم ص سره مینه کوونکی د نبي کریم ص د امت له هر فرد سره مینه کوي. د امت د فلاح دعاوې کوي. د محمد د کوڅې ګدایي هم د ځان لپاره شاهي تاج ګڼي. د حضور اکرم ص وینا وروستی حرف ګڼي. د نبي کریم ص عاشقان دغه کاینات د جمالِ محمد هینداره ګڼي او جمالِ محمد د الهي نور انعکاس ګڼي.

☆☆☆

عزت و ذلت چې د رب له لوري دی، غم و راحت د رب له لوري دی، شتمني او نېستي د الله لوري ده، ژوند او مرګ د الله له لوري دی، نو مورِ ته له تسلیمي پرته نور څه را پاتې کېږي؟

☆☆☆

د حقیقت لټون، د حق اګاه لټون، د صاحبِ دل لټون، د امام زمان لټون، یا د محرمو اسرارو لټون، د کوم جغرافیوي سفر نوم نه دی. د سندباد د سفر او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د حق لټوونکي د سفر ترمنځ لوی فرق دی. د حقیقت د سفر لپاره لومړی باید په خپل ځان کې د خپل حقیقت اګاهي ترلاسه شي. د زړه هینداره چې څومره صفا وي، هماغومره په آسانه به د حق ننداره وکولی شي. د خدای قرب، خپل تندی سجدې کې په ایښودو ترلاسه کېږي. سجده دلته وي، تعلق هلته جوړ وي. دردو شریف دلته وي، منظوري یې هلته کېږي. نتیجه دا ده، چې لومړی د ځان اصلاح وکړئ، خپل ځان د دې جوګه کړئ، چې د نندارې په مفهوم پوه شئ. ابوجهل په دیدن هم قرب ونه مونده، اویس قرني ته له مکاني نږدېکت پرته هم دیدن حاصل وو. مخلصو مسافرو ته د سفر په پیل کې لا د منزل سلامونه را ورسېږي.

☆☆☆

زمونږ د سترګو په وړاندې عجایب شته، خو وینو یې نه. یوه عادي غوندې بې عقله او بې شعوره غوا څومره لویه عجوبه ده، د فطرت عجوبه. له وښو شیدې جوړوونکې هیښوونکې کارنامه، مونږ یې ولې نه وینو؟

☆☆☆

په خپل حال افسوس کول، په خپل ځان زړه خوږول، خپل ځان د خلکو په مخکې د رحم وړ ثابتول، د خدای ناشکري ده. الله په هېڅ انسان د هغه تر وس ډېر بوج نه باروي. کمزورې او لاغرې ارواوې تل ګیلې و شکایتونه کوي، روغې او سالمې ارواوې شکر. په ژوند تنقید، په خالق تنقید دی او دغه تنقید انسان له ایمانه بې برخې کوي.

☆☆☆

یوه انسان له بله وپوښتل، «وروره! په ژوند کې دې اول درواغ کله وویل؟» ځواب یې ورکړ، «په کومه ورځ مې چې دا اعلان وکړ، چې زه تل رښتیا وایم.»

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

خپل علم د عمل سرحد ته رسول له یقین سره، سره یوه لارښود ته هم اړتیا لري.

☆☆☆

که د نوح د خواست، دعا یا خواهش سربېره، د هغه زوی له طوفانه ونه ژغورل شو. په دې سره د نوح په نبوت هېڅ شک نه شي کېدلی. د خدای خپله خوښه ده، که غواړي، د یوه عادي سړي دعا قبلوي او یا د یوه نبي خبره هم ردوي. خدای بې نیازه دی.

☆☆☆

هر انسان له بل انسان نه اغېز اخلي. یو انسان که د بل انسان په خوا کې غلی هم تېر شي، خپل تاثیر شیندي. انسان د بل انسان لپاره تل مینه، کرکه او وېره زېږوي.

داسې هم کېږي، چې انسان یوازې سترګو په سترګو شي او د بل انسان ستونزې ور حل کړي، باشعوره یې کړي، عارف تر ې ساز کړي. د ځینو انسانانو یوازې قرب د علم وسیله وګرځي. له خپلو نږدې انسانانو او په خوا کې تېرېدونکو انسانانو او په سترګو کې اوسېدونکو انسانانو نه، انسان ډېر څه ترلاسه کوي، خو په خاموشۍ سره.

☆☆☆

انسان د نورو د شتمنۍ په لیدو ولې دومره خجالته کېږي؟ دغه وېش، تقدیر دی. زمونږ لپاره زمونږ مور او پلار د تکریم وړ دي. زمونږ څېره زمونږ پېژندنه ده. زمونږ عاقبت زمونږ په خپل دین کې دی. په همدې ډول زمونږ خوشالي زمونږ په خپلو حالاتو او ماحول کې ده. طاووس ته د طاووس هدف ورکول شوی، کارغه ته د کارغه. مونږ دا نه شو درک کولی، چې له پلانکي سره ولې هغسې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

شوو او له موږ سره ولې داسې وشوو؟ موسی علیه السلام له خدایه وپوښتل، «اې رب العالمینه! څرمښکې دې ولې پیدا کړې ده؟» خدای ځواب ورکړ، «عجیبه خبره ده! همدا اوس څرمښکې له ما پوښتنه کوله، چې اې ربه! تا دا موسی اخر ولې پیدا کړی؟» خبره هماغه ده، که انسان په خپل نصیب خوښ وو، اطمینان به وومومي. په نصیب کې تقابلي اندازه ناجایزه ده.

☆☆☆

په دې دنیا کې انسان نه کوم څه له لاسه ورکوي نه یې لاسته راوړي، انسان خو بس راځي او ځي.

☆☆☆

کړاوونه راځي

زموږ د اعمالو له امله.

زموږ د وس په اندازه،

د الله په اجازه.

هر کړاو یو معرفت دی او د یوه بل لوی کړاو د مخنیوي لپاره راځي.

☆☆☆

انکار، د اقرار یو شکل دی، یوه درجه یې ده. انکار تر اقراره رسول د صاحبِ عقل و بصیرت کار دی. په همدې ډول کفر تر اسلامه پورې رسول باید د یوه صاحبِ ایمان، ارمان وي.

☆☆☆

د روغتیا لپاره خواړه اړین دي، خو خواړه روغتیا نه ده.

☆☆☆

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هغسې چې د موسم د بدلېدو وخت وي، د وخت د بدلېدو هم يو موسم وي. حالات تل بدلېږي. له حالاتو سره حالت هم بدلون مومي. چې شپه راشي، خوب به هم له يوې خوا راشي. هغه انسان بريالی دی، چې د ابتلا په تيارو کې يې د امید څراغ روښانه وساته. امید د هغې خوشالۍ نوم دی، چې په انتظار کې يې د غم ورځې تېرې شي. امید د يوې پېښې نوم نه دی، د مزاج يو حالت دی. د فطرت په مهربانېدو يقين امید باله شي.

☆☆☆

هغه ذات چې د مور په بطن کې د ماشوم صورت سازوي، هماغه د خيال سازګر هم دی او هماغه ذات د عمل لاره هم هواروي. هره څېره په يوه ساحه کې اغېز شيندي. په همدې ډول هر فکر په يوه دايره کې تاثير لري او د هر عمل هم يو دور وي چې په هغه دور کې موثر وي. له خپلې دايرې ور اخوا هر موثر شی خپل اثر له لاسه ورکوي. ځينې څېرې، فکرونه او اعمال له پېړيو محيط وي او په زمانو يې سيوری غوړېدلی وي.

☆☆☆

په کومو مسلمانانو چې اسلام نافذ نه شي، په هغو مسلمانانو بايد غور وشي.

کوم اسلام چې په مسلمانانو نافذ نه شي، د هغه اسلام په هکله بايد غور وشي.

کوم نافذه قوت چې په مسلمانانو اسلام نافذ نه شي کړای، د هغه قوت په هکله بايد غور وشي.

☆☆☆

د کاينناتو نظام کې خير و شر، تياره او رڼا، حق و باطل ټول موجود دي. دا د انسان بيروني دنيا ده. د انسان په دروني نړۍ کې هم خير و شر، يقين او وسوسه ريښې لري. مومن بنده په خپل ايمان او يقين وسوسې ختموي او د

خير لاره اختياروي.

☆☆☆

په ګناهونو کې د ښکېل انسان په دعا يقين نه پاتې کېږي.

☆☆☆

په نبي کريم ص باندې د درود لېږلو لپاره نېستي هېڅ خنډ نه ده. نبي کريم ص په نېستمنو کې نېستمن، په يتيمو کې يتيم، په مهاجرو کې مهاجر او په پاڅاهانو کې د وخت پاڅا وو. اقتصادي کړلېچونه د نبي کريم ص د قرب په لاره کې هېڅ خنډ نه دي او نه شتمني پيغمبر عليه السلام ته د قرب ضمانت.

☆☆☆

د سمندر هغه اوبه چې له سمندر نه بهر وي، هغو ته بحر، جهيل، ورېځې، اوښکې، شبنم او هر څه ويلی شئ، خو د اوبو هغه برخه چې سمندر کې ور ګډه شي، هغه به سمندر بلل کېږي.

☆☆☆

د چا چې د رسول الله ص په رسالت ايمان نه وي، هغه موحد به هم کافر وي.

☆☆☆

له ژونده چې غوښتنې او ګيلې وباسو، سکون به مو په برخه شي. سکون د الله په ياد او د انسان په مينه ترلاسه کېږي. نفرت، اضطراب زېږوي. اضطراب، اندېښنې زېږوي. اندېښنې، انسان له سکونه بې برخې کوي. چې مينه نه وي، سکون نشته.

☆☆☆

انسان چې يو څوک د خپل ژوند د ملګري په توګه ټاکي، د هغه حال او

ماضي پسې سترګې غړوي، خو دا يې هېر وي، چې د هغه په ملګرتيا کې به راتلونکی ژوند تېروي. کاميابه ګډ ژوند د رب احسان دی.

☆☆☆

په ژوند کې د با اعتماده اوسېدو لپاره انسان ته همدا حقيقت بسندويه دی، چې نه له ده مخکې د ده په څېر انسان دې نړۍ ته راغلی او نه به تر ده وروسته د ده په څېر انسان راشي. دغه ستر انفراديت ډېر لوی نصيب دی.

☆☆☆

د نن ورځې انسان په دې وېره لري، چې د شوق لذت يې بايللی دی. ګڼ موخيزه ژوند له وېرې ځان نه شي ژغورلی. د رب له رحمته ناهيلي، انسان ته مايوسي پيدا کوي. چې حرص ختم نه شي، وېره به څنګه ختمه شي. انسان چې څومره ځان خوندي کوي، هماغومره يې تحفظ له لاسه وځي. ګواکې ژوند د خپلو بندښتونو او تحفظاتو ښکار شوی دی. هره خوا وېره، وېره ده. له دې وېرو څخه د ځان ژغورنې يواينۍ لار د خپل شوق تندی په سجده سرفرازه کول ده.

☆☆☆

د غافل سترګه هغه وخت خلاصېږي، چې بندېدو ته نږدې کېږي.

☆☆☆

په ذکر کې خپل ځان محو کړئ، سکون به مو په برخه شي.

☆☆☆

د خدای محبوب او ولي الله چې يو ځل له چا سره اړيکه جوړه کړي، بيا يې هېڅ کله نه ماتوي. د لاس نيونې لاج يې ساتي. خدای له انسانانو بې نيازه دی، خو د الله وليان بې نيازه او بې پروا نه وي، ځکه خو د الله وليان ورته

وايي. يانې د الله وليان د انسانانو وليان وي. د خدای قرب خو ترلاسه کېږي، د انسانانو په خدمت او له هغو سره په مينه.

☆☆☆

د الله داسې وليان هم دې نړۍ ته راځي، چې نومورکي وي. هغه ګلاب چې د ټولنې له سترګو پناه غوړېدلی وي، هغه به هم ګلاب بلل کېږي. دا د خدای خپله فيصله ده، چې خپل دوستان له کوم حاله تېروي. يو ځای يې د واک په ګدۍ کېنوي، بل ځای کچکول په لاس ګدا ترې جوړوي. د مينې او وفا صاحبان له هر حال څخه په خوښۍ تېرېږي. د صاحب تعلق لپاره ستم هم اندازِ کرم وي.

☆☆☆

معرفت تل د حيرت په حال کې اوسېدو ته وايي. د اسماوو له پېژندو د اشياوو پېژندنه. د ظاهر په ليدو د باطن پوهه ترلاسه کول. معرفت هغه حکمت دی، چې له کثرت څخه د وحدت لاره در ښيي. د مطلقِ قادر د قدر په وړاندې د يو چا قدر ته نظر نه کول، معرفت دی. حد يې دا دی، چې مورِ پوه شو، چې مورِ خدای پېژندلی نه شو، فقط منلی يې شو.

☆☆☆

د حالاتو او وخت له بدلونونو سره تر بدلېدونکو تعلقاتو خو ښه ده، چې سړی يوازې وي.

☆☆☆

پيشرفت او ارتقا ضروري ده ـــــ خو له زانګو نه تر ګوره پورې څومره پيشرفت پکار دی؟ .... اصلي پيشرفت دا دی، چې ژوند هم اسانه شي او مرګ دې هم مشکل نه وي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

په دعا باور هم نېکي ده. مورِ چې په تنهايي او خاموشي کې دعا کوو، دا اعلان کوو، چې زمورِ رب په يوازيتوب کې زمورِ په خوا کې دی او د خاموشي په ژبه هم پوهېږي. په دعا کې اخلاص سترګې لمدوي او همدا اوښکې د دعا د قبلېدو دليل دي. دعا د مومن تر ټولو لويه اسره ده. دعا ناممکنات کېدوني ګرځوي. دعا زمانې بدلوي. دعا د فلک څرخ درولی شي. دعا د راتلونکو مصيبتونو مخه نيولی شي. په دعا کې ډېر زيات قوت دی. تر څو چې سينه کې ايمان وي، په دعا به يقين پاتې وي. څوک چې په دعا باور نه لري، په سينه کې يې ايمان نشته. خدای ته بايد لاسونه لپه کړو، چې د دعا له افاديت څخه مو ناهيلي کېدو ته پرې نه ږدي.

☆☆☆

مورِ چې کله د ځان په اصلاح يقيني شو، بيا د نورو د اصلاح لپاره تبليغ ته مخه کوو. مورِ غواړو، چې هغوی هم له مورِ سره د جنت په نعمتونو کې راشريک شي. زمورِد دې ادعا ثبوت يوازې دا کېدلی شي، چې مورِ هغه شخص د خپل موجوده ژوند په اسانيو کې راشريک کړو.

☆☆☆

الهي مينه په حقيقت کې له الهي محبوب سره مينه ده. د الله حبيب صلی الله عليه وسلم د الله تعالی مينه در پېرزو کوي او الله د خپل محبوب ص مينه در پېرزو کوي. مينه د محبوب په اطاعت کې د مجبوری نفي ته ويل کېږي. ځان تېرېدنه د مينې اعجاز دی. مينه حيرانتيا زېږوي، محويت او ويښتيا زېږوي، د ژوند له اوسني کرب څخه د ژغورتيا يوازينی لار مينه ده.

☆☆☆

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هغه انسان چې ځان سره مخلص نه وي، له نورو سره به څه مخلص شي. هماغه انسان مخلصه ملګري مومي، چې له خپلو ملګرو سره مخلص وي. د دروغجنو لپاره دغه ټولنه دروغجنه او د رښتینو لپاره رښتونې ده. هغه انسان چې ځان سره مخلص نه وي، د خپل وجدان له غږ څخه د تېښتې په پار په دنیوي چارو کې ځان بوختوي، تر څو سکون او ارامتیا یې په برخه شي. داسې وخت هم راځي، چې یو وخت به یې د مادي څیزونو په ترلاسي د خوشالۍ احساس کاوه، خو اوس یې له ترلاسي وروسته هم خوښي نه په برخه کېږي. اروا یې نارامه وي. په دغه ډول حالت کې که دی تر خپلې اړتیا زیاتې پیسې او نور توکي د الله په مخلوق ووېشي، اروا ته به یې خوشالي او سکون راستانه شي.

☆☆☆

تر ټولو لویه نېکي دا ده، چې نېک خلک د الله لپاره سره را ټول شي. علماء او شیوخ را ټول شي. کله چې ټولې ډلې را ټولې شوې، نبوي نظام هماغه مهال په پښو ودرېده. که سره بېل شوو، نو د سفر اوږدېدل لازمي دي. په اسلام کې تر ټولو لویه نېکي ټولنه ده. اختلاف له منځه یوسئ. څه ډول چې تیت شوي یاستئ، هماغسې سره راټول شئ. کلمه طیبه د توحید کلمه ده. د کلمې د وحدت په مټ یو ځل بیا هغه دور راګرځېدلی شي، چې ټول ورته سترګې په لار دي. مور په خپله د لارې خنډ یو. هلته چې توحید د خدای وحدانیت دی، همالته د ملت د وحدت نوم هم دی.

همدا توحید دی، نه ته پرې پوه شوې نه زه پرې پوه شوم.

☆☆☆

هر مبلغ باید په دې غور وکړي، چې د یوه سړي دی نه خوښېږي، نو د ده دین به یې څنګه خوښ شي. د دې لپاره چې دین مو خوښ کړي، خپل عمل

د خوښې وړ وګرځوئ. خپل شخصیت د خوښې وړ وګرځوئ. د نورو مزاج، عقل، اړتیا ته په کتو تبلیغ ورته وکړئ. د ناپوه په لاس کې د صداقت لښته نور خلک بدګمانه کوي.

☆☆☆

اسلام، یو مسلمان د ژوند او د ژوند د نورو لوازماتو امین ګرځولی دی. مسلمان د هغو نعمتونو ساتونکی دی، چې الله تعالی ور پېرزو کړي دي. دا زموږ فرض دی، چې د خپل باطني او ظاهري وجود ساتنه وکړو. د باطني وجود له ساتنې مراد د خیال ساتنه، د ایمان ساتنه، د احساس ساتنه، د فکر و ذکر ساتنه او د غم او خوشالۍ ساتنه ده. د ظاهري وجود ساتنه هم اړینه ده. انسان پخپله د خپل وجود د پولو ساتونکی دی. موږ باید احتیاط وکړو او وګورو، چې یو شی هم زموږ وجود کې راګډ یا رانه بېل نه شي، مګر د الله په امر سره. په همدغه ډول ځان ساتنې سره د اسلام ساتنه کولی شو. په اصل کې د مسلمان ساتنه پخپله د اسلام ساتنه ده.

☆☆☆

له یوه شي د هغه د فطرت خلاف استفاده ظلم دی.

☆☆☆

حُسن، د عشق ذوقِ نظر دی او عشق، حسن ته د نړېدلو هیله ده.

☆☆☆

د الله له ذکر پرته د زړه اطمینان نه شي ترلاسه کېدی. کوم عمل چې زړه ته اطمینان ښېي، هغه عمل هم د ذکر برخه ده. کوم مقام یا انسان سره نړېدلو چې د زړه د اطمینان سبب ګرځي، هغه مقام او انسان هم د خدای په ذکر پورې تعلق نیسي. مثلاً ذکر اطمینان دی، نو له ذاکر نه هم اطمینان در

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

رسېږي او د ذکر مقام هم د زړه او روح د اطمینان باعث جوړېږي. داسې به ووایو، چې د خانه کعبې زیارت، مدینه منوره کې حاضري، د دین د بزرګانو په استانو کې حاضري، د خپلو لویو شیوخو په در و حضور کې حاضري ټول د اطمینان دروازې دي. او دا ټول د الهي ذکر د ستر منزل په لور د ورغلي عظیم مسیر مقامات دي. نیت چې الله وي، ټول سفر د الله ذکر دی.

☆☆☆

د طریقت ټولې لارې په خپل، خپل انداز کې صحیح دي، خو د اسلامي ملت ښېګڼه په همدې کې ده، چې د یوه ستر وحدت په بڼه را پورته شي. مسلک له اسلام څخه دی، نه اسلام. اسلام، اسلام دی.

☆☆☆

د یوه لوی کار تر پیل له مخه د هغه لپاره قوي جواز او قوي دلیل ډېر ضرور دی. په سفر چې ځو، لومړی له نورو مسافرو څخه د سفر حالات معلومول اړین دي. د کښتۍ په مرسته هم که سفر کوو، نو د لامبو وهنې له فن سره بلدتیا ښه وي. د لوی کار لپاره لوی دلیل ضروري دی. هر کار د هر سړي لپاره نه وي. د علم لاره چې وهي، هغه نور خلک دي، تعلیم چې ترلاسه کوي او په کورونو کې ناست وي، هغه نور دي، او سفر ته ملا تړونکي نور. د خدای په لاره کې تلونکي نور دي او د هغوی لاره نیوونکي نور. قوي دلیل د شهادت جذبه وه. د شبیر رض سجده وه. لوی کار وو، لوی دلیل وو، لوی جواز وو. لویه نتیجه ده. لویه خبره ده.

☆☆☆

قول دی، چې د زړه په دروازه د څوکیدار په څېر ودرېږئ. وګورئ، چې زړه ته مو کوم خواهش ننوځي، کوم احساس راټوکېږي. هغه خواهشات چې په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

فاني دنيا پورې تعلق نيسي، زړه ته يې مه پرېږدئ. هغه جذبه چې د غيرالله لپاره وي، هغه په زړه کې ايساره وساتئ.

☆☆☆

خير او شر د الله له لوري دي. وضاحت يې دا دی، چې خير، د الله د قرب دليل دی او شر، د الله د خفګان سبب. د خير او شر د الله له لوري راتله همداسې دي، چې ژوند او مرګ د خدای لوري دي. مور ژوند خوښوو، له مرګ نه د ژغورنې تدابير لټوو. شپه او ورځ هم د الله له لوري ده، عزت او ذلت هم د خدای له لوري. مور عزت غواړو، له ذلت څخه ځان ساتو. شرپسنده انسان دا دليل نه شي وړاندې کولی، چې شر يې د الله له لوري دی. مور خبر کړای شوي يو، چې کومه لاره کومې خواته ځي او د کوم عمل څه نتيجه راوځي. د خير او شر جګړه همېش روانه وي. شر چې ماتې وخوري، بښنه وغواړي او د خير په غېږه کې پناه واخلي. د خير او شر وجود هېڅ کله هم پای نه شي مونډلی. دغه کشمکش به روان وي. د انسان دننه او تر ده دباندې. خير غوښتنه، د الله مهرباني ده او شر زمور د نفس ارمان. مور که خپلې ارادې د الهي احکامو تابع کړو، دغه کشمکش هم پای ته رسېږي، يا کم از کم شي. خدای مو دې د خپل نفس له شره وساتي. (امين)

☆☆☆

د خواهش پيدا کېدل فطري خبره ده. په انسان کې تل خواهشات را پيدا کېږي. کله نا کله يو خواهش، د خواهش تر شکسته پورې سفر کوي. يو نيم خواهش انسان له خواهشاتو بې نيازه کوي. يو نيم خواهش انسان غره په غره ګرځوي. يو نيم خواهش انسان له خپل ذات سره مخامخوي او کله نا کله يو خواهش يې په خوشبختۍ سرخرو کړي. کوم خواهش څه کوي، انسان ته د دې علم بويه. که نه له خواهشه خونِ جيګر جوړېږي او د وينې په اوښکو اوړي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

څوک چې د الله په لټون پسې وځي، تر انسانه رسېږي. اخر د الله ولیان خو هم انسانان دي.

☆☆☆

تر ټولو ډېر بدمرغه انسان هغه دی، چې غریب هم وي او ډېر زړی هم.

☆☆☆

نبي کریمﷺ نړۍ ته رحمت را استول شوی دی. په مور فرض دي، چې د نبي کریمﷺ د رحمت انداز تر ټولو مخلوقاتو ورسوو. اسلام به پخپله ور ورسېږي. نړۍ ته چې د شپې له تیارو وروسته رڼا ورسېږي، سترګې یې پخپله د لمر په خوا پورته شي. د لمر دین رڼا دی. په نورو د ځان منل نه.

☆☆☆

د خدای په کتاب کې غور وکړئ. مؤمنانو ته بلنه ورکول شوې، چې له دې کتابه هدایت ترلاسه کړي. په کتاب کې ټوله ګټه، ګټه ده. هغه اداري چې د خدای کتاب یې چاپ کړی دی، له هغوی دې د الله یو ولي د الله په نوم د کتاب حق الزحمه وغواړي. دومره حق الزحمه به یې وي، چې په راتلونکي کې به ټول انسانیت ته قرآن کریم وړیا رسېږي. د سرو او سپینو زرو په تارونو له لیکل شوي قرآن څخه غوره دی، هغه قرآن چې د یوه بې وزلي نابینا ماشوم په زړه کې حفظ دی. د قرآن په بېلا بېلو ماډلونو د لګښت په ځای پکار ده، چې له قرآن لوستونکو او تدریسوونکو ادارو سره مرسته وشي.

☆☆☆

تر لاس لاندې کسانو سره ښه رویه همدا ده، چې لاس لاندې یې مه ګڼئ. هغوی انسانان دي. ستاسو په څېر ژوندي انسانان. د هغوی د جذباتو،

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

احساساتو او ضرورتونو خیال وساتئ. خدای به مو راضي شي. کومه رویه چې له خپله ربه غواړئ، هماغه رویه له خپلو ماتحتو سره وکړئ. ماتحت هم ازمایښت دی او افسر هم ازمایښت. کوچنی که کوچنی پاتې نه شو، لوی به هم لوی نه شي پاتې. یوازې به انسانان لیدل کېږي.

☆☆☆

د هر کار یو وخت وي او د هر وخت لپاره یو کار وي. بې وخته لمونځ، لمونځ نه شي باله کېدی. د حج خپلې ورځې دي. د روژې میاشت ده. د خوب وخت دی. د رزق د لټون وخت دی. د تعلیم یو دوران دی. د علم دور بېل دی. د خواهشاتو زمانې نورې دي. د فتحوحاتو ورځې نورې وي. د ماتې شېبې نورې دي. د عمل میدان بېل دی. د جزا او سزا وخت بېل ټاکل شوی دی. نه خوشالي تلپاتې ده، نه غم تل دوام کولی شي. هر کار په خپل ټاکلي وخت ښکلی و مناسب ښکاري، که نه بدرنګه و بدشکله!! د علم او عمل زمانې باید وپېژندل شي.

☆☆☆

ښه موټروان هماغه دی، چې ډېر هارن ونه کاروي او بیا، بیا بریک ونه وهي. هارن د نورو د وېرولو لپاره دی او بریک د ځان لپاره زغم. په همدې ډول، ښه ژوند هغه دی، چې نه نور خلک ووېروې او نه یې ډېر وزغمې. په نورو د خپلې خوښې د مسلط کولو لپاره نور خلک وېرول کېږي او د نورو ناوړه خبره زغمل کېږي. خپله خوښه ځان سره وساتئ. د نورو خوښه، هغوی ته ور پرېږدئ، د هغوی خوښه بده مه ګڼئ. د ژوند سفر به مو ښه لنډ کړی وي. چا چې نور خلک خوښ کړي دي، هغه اورمرو خوښ کړای شوی دی. چا چې د نورو خیر غوښتی، د هغه اورمرو خیر غوښتل شوی دی. لنډه دا چې له نورو سره نېکي ځان سره نېکي ده. له نورو سره بدي، ځان سره بدي ده. له نورو

deenodanish.com له ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سره نېکي زمور نېکمرغي ده. له نورو سره بدي زمور د عاقبت خرابي ده.

☆☆☆

د خالق ګیله د مخلوق په مخکې مه کوئ او له مخلوق څخه د خالق په مخکې سر مه ټکوئ ــــــــــ سکون به مو په برخه شي.

☆☆☆

دین او دنیا ــــــــــ له کوم شخص نه چې ښځه او بچي راضي وي، د هغه دنیا کامیابه ده او له چا نه چې مور او پلار خوشاله وي، د هغه دین کامیابه دی.

☆☆☆

څوک چې رښتونی نه وي، هغه د کوم رښتوني انتظار نه شي کولی.

☆☆☆

مور یو عظیم قوم کېدلی شو، که ښېنه کول او ښېنه غوښتل پیل کړو.

☆☆☆

تر ټولو لوی ځواک، د زغم ځواک دی.

☆☆☆

د خدای په اسرارو پخپله خدای پوهېږي. د الله په خبرو الله پوه شه یا د الله حبیب پوه شه. مور د خدای په رضا نه شو پوهېدلی، بلکې مور خو په خپله رضا هم نه شو پوهېدلی. موسی علیه السلام په دې پوه نه شو، چې ملګری یې څه کوي. کښتۍ ولې ماته شوه. ماشوم ولې ووژل شو. د یتیم دېوال ولې ورغول شو. ــــــــــ یو پیغمبر پوه نه شو. یعقوب علیه السلام پوه نه شو، چې تر یې بېل شوی زوی یې په کوم حال کې دی. دا د خدای کارونه دي. که

خدای ونه غواړي، نو څوک پرې پوهېدلی شي. خدای باید ومنل شي، په خدای پوهېدل مشکل دي. زمور په غاړه تسلیم دی، تحقیق نه دی. تحقیق د دنیا وکړئ او تسلیم الله ته شئ. داسې نه چې مور دنیا ته تسلیم شو او په الله تحقیق پیل کړو.

☆☆☆

کوم انسان چې د خپلې وفا ذکر کوي، هغه په اصل کې د بل د بې وفایي ذکر را اخیستی وي ـــــ وفا خو کېږي، له بې وفا سره.

☆☆☆

ځینې خلک په ژوندوني هم مړه وي او ځینې له مرګه وروسته هم ژوندي.

☆☆☆

د پیشرفت لپاره خواري او مجاهده ضروري ده، خو دا باید هېر نه شي، چې مجاهده له خره نه اس نه شي جوړولی.

☆☆☆

دا د خدای لوی احسان دی، چې د انسانانو په دنیا کې غیرانساني مخلوق مثلاً پېریان، پرېښتې او داسې نور په انساني شکل نه شي راتلی.

☆☆☆

په مینه چې ورته وګورې، په ګلاب کې به رنګونه ووینې، خوشبو به ومومې. په نفرت ور وګوره، سترګو ته به دې ازغي ودرېږي.

☆☆☆

په تیارو کې له لرې راتلونکی اواز هم د رڼا حیثیت لري.

☆☆☆

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د ولیانو په صحبت کې اوسئ ـــــــــــ سکون به مو په برخه شي.

☆☆☆

مسؤلیت او شوق یو ځای کړئ ـــــــــــ سکون به مو په برخه شي.

☆☆☆

د پیسو هوس او د وجود لذت چې ترک شي، ژوند اسانېږي.

☆☆☆

د یو چا سکون مه ور خرابوئ ـــــــــــ سکون به مو په برخه شي.

☆☆☆

له زړه غلاظت او کینه وباسئ ـــــــــــ سکون به مو په برخه شي.

☆☆☆

د حقیقت لټوونکی یوه نه یوه وسیله په لاس، د حقیقت په تلاش پسې وځي. مثلاً یو ځای به یې لوستلي وي، چې حقیقت داسې دی، نو له همدې فکر سره راوتلی دی او کله چې دغه حقیقت په ګوتو ورشي، نو د هماغه فکر له مخې به یې پېژني. ګواکې د پېژندو معیار پخپله له لټوونکي سره وي او د همدې معیار له کړکیو حقیقت ته ګوري. که مور سترګه د پېژندو وسیله وګڼو، حقیقت به د یوې منظرې په بڼه مخې ته راشي، د یوې څېرې په صورت کې به مخې ته راشي. که یوازې غوږونه راسره واخلو، نو حقیقت یوه نغمه ده. که زړه راسره یوسو، حقیقت دلبري ده. که له ذهن سره روان شو، حقیقت حیرت دی. که د ګدا غوندې ووځو، حقیقت به د سخاوت په شکل کې مخې ته راشي. که د سخي په توګه روان شو، حقیقت به د ګدایانو په منځ کې وموموـ. لنډه دا چې لټوونکی چې په هر رنګ کې وځي، تلاش به یې هماغه رنګ خپل کړي او هر رنګ د حقیقت رنګ دی، په دې چې دې نړۍ کې باطل

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هېڅ شی هم نشته.

☆☆☆

چا چې د مور او پلار ادب وکړ، اولاد به يې با ادبه شي ـــــ که نه، نه به شي.

☆☆☆

د اخرت سفر له همدې دنيا پيلېږي او له خدای سره تعلق د انسانانو په ذريعه جوړېږي. مور ګناه له انسان سره کوو، نېکي چې کوو له انسان سره، سخاوت له انسان سره، رحم له انسان سره، رويه له انسان سره، مينه او کينه هم له انسان سره. الهي احکام له انسانانو سره په عمل کې ترسره کېږي. لمونځ له انسانانو سره په ګډه کېږي. جهاد له انسانانو سره د انسانانو په خلاف کېږي. امت د انسانانو اجتماع ده. قوم د انسانانو ټولګه ده. انسان په هېڅ مقام کې هم يوازې نه وي. په يوازيتوب کې د انسانانو يادُونه وي. په محفلونو کې د انسانانو څېرې. په بازارونو کې د انسانانو ګډه ګوډه. د ذکر و فکر مجلسونه له انسانانو سره. حتی جنازه هم له انسانانو سره. او د جنازې لمونځ هم له انسانانو سره.

که يو انسان يوازې په عبادت مشغول شي، لنډه موده وروسته به يې شاوخوا هجوم را ټول شي. جومات به جوړ شي. خانقا به جوړه شي. خيراتونه به جاري شي او په يوازيتوب کې مېشت انسان به د مجلسونو امير شي. ژوند د خپل ځان اظهار دی. اوس د غور وړ خبره دا ده، چې زمور اعمال نامه څه ده؟ له خپل شاوخوا انسانانو سره زمور د اړيکو نتيجه. د مور او پلار خدمت نېکي ده. د محتاجينو خدمت نېکي ده. وفا نېکي ده او د دې برعکس بدي. په خوب کې انسان يوازې وي. خو «هلته يې هم خوب کې وي له خيال سره اړيکه». په خوب کې له نېکيو محروم وي او له بديو خوندي وي. د انسان هر

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عمل په بل انسان پورې اړوند دی. ذاتي عمل یوازې یو دی او هغه سجده ده. په ټول لمانځه کې مور د خلکو ذکر کوو. مثلاً د هغو خلکو ذکر چې د خدای انعام پرې شوی. د هغو ذکر چې د خدای غضب پرې شوی. د بې لارې او مخلصو او صالحینو ذکر. د حضرت ابراهیم او د هغه د عیال ذکر. د والدینو ذکر. د اولاد ذکر. د سپېڅلي پیغمبر او د سپېڅلې کورنۍ ذکر. دا ټول اذکار دي. انسانان مختلف صورتونه لري. د هغوی ذکر او په هماغه انداز ذکر، عبادت دی. نو زما عبادت، د انسانانو ذکر، د انسانانو د قرب، له انسانانو سره د سلوک، له هغوی څخه د لارښوونې د ترلاسي اسلوب، د هغوی له نیمګړتیاوو، بې باکیو او بې لاریو څخه د ځان ساتنې د ادابو نوم دی. زما محو کېدنه او یوازیتوب یوازې یوه «سجده» ده. د همدې لپاره لازمه ده، چې سجده هېڅ کله قضا نه شي او له انسانانو سره ښه رویه باید دوام وکړي، تر څو سکون مو په برخه وي.

د خپل د زړه تسکین څه چاره وګوره

د خدای له دې کوره نفرتوته وباسه

☆☆☆

خوش بخته انسان هغه دی، چې په خپل بخت خوشاله وي.

☆☆☆

انسان هغه مهال په پریشاني اخته کېږي، چې په زړه کې یې د یوه لوی هدف د ترلاسي ارمان وي، خو د هدف مطابق وړتیا ورسره نه وي. د سکون لپاره ضروري ده، چې یا خپل خواهش را کم شي او یا وړتیا زیاته کړای شي. د هر خواهش د ترلاسي لپاره یو عمل دی. که عمل نه وي، خواهش یوازې یو خوب دی. مور چې څه ډول عاقبت غواړو، هماغسې عمل باید وکړو. بریا د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خواریکښو لپاره، جنت د ایماندارو لپاره او اختر د روژه دارو لپاره دی.

☆☆☆

د ظاهري رڼا موندنه د سترګو د بینایي کار دی او د باطن نور په منور زړه مونده شي او صادق په خپل صداقت پېژانده شي.

☆☆☆

ستاسو د خپلې تسلیمي نوم الله دی. په بیروني نړۍ کې د خدای بې شمېره ایاتونه وي، خو ستاسو له خپل رب سره تعلق هماغومره دی، څومره چې ستاسو تسلیمي او رضا ده.

☆☆☆

تر ټولو ډېر بدبخته انسان هغه دی، چې انتهایي غریب وي او په خدای یې یقین نه وي.

☆☆☆

ځینې خلک خپل ځان له خپل مسلک نه لوړ ګڼي او ځینې خلک خپل مسلک تر ځانه لوړ ګڼي. په دواړو حالتونو کې یې پایله پریشاني ده. ځان تر خپله ځانه لوړ ګڼل یا تر ځانه کم ګڼل انسان په اضطراب اخته کوي. مثلاً یو کس ووایي، چې زه دلته په مدیریت کې هسې خپل وخت ضایع کوم، که وزیر وای، ډېر بهتر کار به مې کړی وو. یو بل انسان وایي چې زما لپاره وزیر کېدل د مصیبت سبب دی. تر دې ښه وه، چې وکیل وای. په همدې ډول خلک له خپل اوسمهاله بېزاره وي. ډېر کم خلک وي، چې په خپل حال او حالت مطمئن وي.

☆☆☆

د حق د لارې په مسافر د سفر په اوږدو کې سختي هم راځي او آساني

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هم. په سختیو کې د حق مېړني صبر تـه پنـاه وړي او پـه اسـانیو کـې د شـکر اسره اخلي. دغه سفر د سیند غوندې دی، چې لـه غرونـو لمنـه ور ټولـوي خپلـه لاره لنډوي او په هوارو کې تـر څنـډو او غـاړو پـورې ځمکـې اوبـوي او بلاخـره خپل هدف یعنې ناپایه سمندر ته ځان رسوي.

☆☆☆

د هر فرد په زړه کې د قوم د خدمت جذبه بویـه. جذبـه لـه نیتـه سر نیسي، نیت یو علم دی او د علم لپاره یو عمل دی. د عمل لپاره د عمـل میـدان دی، او د عمل په میدان کې په عمل کې درشریک خلک چې نېک نیتـه وي، نـو د عمل انجام به صحیح وي. همسفر دې چې همنظر نه وي، بریالیتوب نشته.

☆☆☆

خپل ماحول ژور وځیرئ او په غور یې مطالعه کړئ. غور وکړئ، چې ستاسو مېرمنه او بچي، مور او پلار، عزیز او خپل، دوست او ملګری، ستاسو په اړه څه نظر لري. خلک ستاسو په وړاندې ستاسو په اړه څه وایـي. ستاسـو پـه نشـتون کې ستاسو یادونه په کوم انداز کوي. کله نا کله په پټـه خولـه د خپـل کـور لـه مخې د اجنبي غوندې تېر شئ او فکر وکړئ، چې په دې کور کې به تاسو ترکله اوسئ. هغه وخت لرې نه دی، چې دا کور به وي، خو تاسو به نه وئ. هاله بـه دې کور کې څه روان وي. ستاسو تذکره به کېږي ـــــ په کوم انداز؟

☆☆☆

که د خدای محبوب ص نه وای، هـېڅ بـه هـم نـه وو. او کـه هـېڅ هـم نـه وای، یوازې الله به وو. او کـه یـوازې الله وای، نـو څـه بـه وو؟ خلاصـه دا ده، چې له مورِ سره د الله او د الله د حبیب ص په مقام بحـث نـه ښـایي. د الله پـه مقام د الله حبیب ص پوه شه او د حبیب په مقام خدای پوه شه.

deenodanish له څخه ښکته شوی

☆☆☆

هغسې چې وصال او فراق دواړه د محبوب ورکړه ده، په همدې ډول ورځ او شپه دواړه د لمر دوه مخونه دي.

☆☆☆

د لمونځ کولو امر نه دی شوی، د لمانځه د اقامت امر شوی. د لمانځه اقامت هله شي، چې انفرادي او اجتماعي ژوند د الهي اوامرو په سیوري کې وي. اړینه ده، چې اسلامي ملت په یوه انداز او لوري د الله له حکم سره سم سفر وکړي. د مسلمان لپاره اړینه ده، چې په څه ډول په لمانځه کې خپل ځان د خدای په وړاندې ویني، په همدې ډول تر لمانځه وروسته هم ځان خدای ته مخامخ وګڼي او هېڅ عمل یې باید داسې نه وي، چې د ملي ګټو خلاف وي. په اولی الامر فرض دی، چې په خلکو لمونځ قایم کړي.

☆☆☆

له تسلیمي وروسته، تحقیق بې لارې راوړي.

☆☆☆

که بدي لټوئ، خپل ګربوانه ته سر ښکته کړئ. که د نېکي په تمه یاستئ، په نورو کې یې ولټوئ.

☆☆☆

نېستمن هغه دی، چې حاصل یې تر خواهش کم وي. د چا چې حاصل تر خواهش کم وي، هغه شتمن دی. یا به ووایو، چې نېستمن هغه دی، چې لګښت یې تر عایده ډېر وي. شتمن هغه دی، چې عاید یې تر لګښته ډېر. نېستمن که خپل خواهشات تر لګښتونو کم کړي، هوسا به شي. که تر ځانه شتمنو خلکو سره ځان پرتله کوي، هېڅ کله به سوکاله نه شي. ژورو ته

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وګورئ، ځان به لوړ ووينئ. لوړو ته وګورئ، ځان به ټيټ ووينئ. نو شتمني او نېستي، لوړه او ژوره يو احساس دی. خپل احساس مو اصلاح کړئ.

☆☆☆

فکر بدلېدلی شي، خو د کېدونکي کار چاره نشته.

☆☆☆

د محب او محبوب بېل بېل تعريف مشکل دی. د مينې له اړيکې دواړه، دوه شوي دي. د يوه هم په بل لوړاوی نه شي بيانېدلی. د محبوب مقام، د محب تر مقامه ټيټ يا لوړ نه شي بلل کېدی. د يوه شتون د بل له برکته ده. په دنيوي اړيکو کې د محب او محبوب پرتله ناشونې ده. د حقيقت په نړۍ کې خو لا ډېره ناشونې. الله له خپل محبوب سره څومره مينه لري، چې د کايناتو د تخليق سبب يې وباله. الله له خپلو پرښتو سره په ګډه په خپل محبوب درود لېږي. د هغه ذکر لوړوي. د هغه شان بيانوي. او محبوب ص د خپل رب عبادت کوي، د هغه تسبيح بيانوي. د هغه لپاره ژوند او د ژوند بوختياوې ځانګړې کوي.

☆☆☆

تر څو چې حرص موجود وي، وېره به هم وي. هغه چې له حرصه ازاد شو، له وېرې يې ځان بري کړ. له ژوند سره مينه وېره زېږوي. د هدف مينه، انسان د مرګ له وېرې خپلواکوي.

☆☆☆

ګناه د ديني حکم خلاف عمل ته وايه شي. جرم د حکومت د حکم خلاف عمل دی. د ګناه سزا الله ورکوي او د جرم سزا حکومت. له ګناه نه چې توبه وشي، سزا پرې نه ورکول کېږي. خو جرم نه بښل کېږي. د ګناه سزا په اخرت

کې او د جرم سزا په همدې دنیا کې ده. په ګناهونو هغه حکومت سزا ورکولی شي، چې الهي حکومت وي. که له توبې وروسته له انسانه بیا ګناه وشي، نو بېرته باید توبه وشي. معنا دا چې که مرګ راځي، د ګناه په حالت کې را نه شي د توبې په حالت کې راشي. توبه چې قبوله شي، نو هغه ګناه بیا هېڅ کله له سړي نه کېږي او نه د هغې ګناه یاد پاتې کېږي. رښتینی توبه ګار داسې دی، لکه نوی زېږېدلی ماشوم.

☆☆☆

د کوم سفر چې انجام کامیابي وي، هغه ټول سفر باید کامیابي وبلل شي.

☆☆☆

له مورِ نه چې خوشالۍ کډه وکړي، په ځای یې غم راشي. څومره چې خوشالي لویه وي، هماغومره به غم لوی وي. غم د خوشالۍ د تلو نوم دی.

☆☆☆

بریا او ماتې دومره مهمه نه ده، څومره چې د هدف انتخاب. د نېک هدف په سفر کې ناکامه انسان په بد هدف کې تر بریالي انسانه په درجو، درجو بهتره دی. داسې هم امکان لري، چې یو سړی دې د خپل هدف په ترلاسي کې بریالی شي، خو ژوند یې ناکامه وي.

☆☆☆

بشري پېښګیري او پېش بندي د فطرت په چارو کې خنډ نه شي جوړولی.

☆☆☆

دروغجن انسان چې الهي کلام هم بیانوي، اثر به یې نه وي. د رښتینولۍ د بیان لپاره د صادق ژبه پکار ده ـــــــ بلکې د صادق خبره اصلاً صداقت ده. څومره چې لوی صادق وي، هماغومره به لوی صداقت وي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

د فطرت کتاب مطالعه کړئ. په غور. په فکر. له ختیځ نـه راختـونکی لـر د څومره ستر انقلاب پیغام ځان سره راوړي. خاموشۍ په غږېدو شي. تیـارې پـه ورکېدو شي. رنګ رنګ ګـلان پـه غوړېـدو شي. د تـازه هـوا څپـې او د مرغـانو نغمې او تر ټولو ستر شاهکار، یانې انسان، لـه خوبـه را بیـدار شي. بیـا همـاغـه دنیا، همـاغه رنګینۍ، د ژوند زمزمې، د مرګ منظرې، مینه، کرکه، هره خـوا یـو نه یـو څـه پېښـېدل پیـل شي. یـو سـتر پیغـام د ویښـتیا، د عمـل، د معـاش د ترلاسي، له مېړي تر شاهینه، له ګیدړې تر زمري، له نېستمنه تر شـتمنه، ټـول په کار بوخت شي. څوک کور ته روان دی، څوک له کـوره روان دی. طـاووس نڅېږي. بلبلې نغمې غږوي او په خوشبویانو ټول کاینات معطـر وي. دا ټـولې د فطرت نندارې دي. تاسو د فطرت له رنګینیو د فاطرِ مطلق، حسـنِ تخلیـق تـه ځیر شئ. د مالک ارادو ته تم شئ. سـترګو تـه بینـایي بښـونکی، پـه خپلـه پـه رنګونو کې برېښي. د اورېدو حس بښونکی د نغمـه سـاز پـه سـاز کـې نغښـتی. هغه چې مرغان تشه ګېډه او تـش لاس لـه خپلـو ځـالو راوبـاسي، د هغـوی د خوړو غم یې خوړلی دی. د زمري خوړو ته یې ژونـد ورکـړی. د عقـاب خـوراک په هوا کې الوځي. د ټپوس خوراک مردار شوی. سترګو ته یې د نندارو خوراک پېرزو کړ. غوړو ته یې د نغمو خوراک. زړه ته د احساس. خالق په فطـرت کـې د تخلیق کارنامې وړاندې کړې. غور وکړئ، چې څـه، څـه نـه دي روان. خپـل څو ورځنی ژوند مو په دې نندارو کې بوخت کړئ او له نعمتونو څخـه تـر منعمـه خپل خیال وغځوئ. له فطرته تر فاطره، له تخلیقه تـر خالقـه، لـه ذکـر نـه تـر مذکوره ـــــــ خپل فکر هم مهم دی، خو تر ټولو مهم د هغـه چـا فکـر دی، چې ته یې صاحبِ فکر پنځولی یې.

☆☆☆

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د انسان د سفر ذوق د ده نیم لارښود دی. یا به ووایو، چې د سفر ذوق نه وي، نو هېڅ لارښود نشته.

☆☆☆

زمور تر تلو وروسته به دنیا هماغسې ودانه و ولاړه وي، چې زمور تر راتلو له مخه وه.

☆☆☆

الله تعالی چې حقایق څومره واضح کړي دي، هغه د بندګانو د هدایت لپاره بسنډویه دي. د ډېرو وضاحتونو ارمان په ګمراهۍ کې د اخته کېدو وېره پیدا کوي. له الله تعالی باید دا پوښتنه ونه شي، چې ولې یې داسې وکړل او ولې یې هغسې ونه کړل، بلکې د دې برعکس مور پخپله باید چمتو اوسو، چې خدای به له مور نه پوښتنه کوي، چې ولې مو داسې وکړل او ولې مو هغسې ونه کړل.

☆☆☆

حکومت نا اهله کېدلی شي، بې اخلاصه نه شي کېدلی. له هېواد سره اخلاص د حکومت مسؤلیت هم دی او اړتیا هم. هېواد چې سلامت وي، حکومت بقا کولی شي. د همدې لپاره حکومت همېش مخلص وي. مخالف ګوند حکومت ته بې اخلاصه وایي او حکومت خپلو مخالفینو ته د هېواد دښمن وایي. هغه انسان چې تر لس کاله ډېره موده یې په هېواد کې تېره کړې وي، هغه د هېواد دښمن نه شي کېدلی. د چا چې د مور او پلار قبر په هېواد کې وي، هغه خاین نه شي کېدلی.

☆☆☆

په خپلو دعاوو کې الله تعالی ته لاره مه ور ښیئ، چې باید داسې وکړي،

داسې ونه کړي. په پلاني قوم باید رحم وکړي. په پلاني غضب او پلانـی بایـد تباه کړي. ځینې خلک ځان ته د خدای د مشاور فکـر کـوي او هغـه تـه لګیـا وي: دلته فضل وکړه. دلته تباهي جوړه کړه. هغه پلانی نیست و نابود کړه. زه او زما اولاد د تل لپاره د پاچاهانو پاچاهان وګرځوه. داسې هېڅ کله نـه ده. الله تعـالی د خپـل حبیـب ص دښـمن هـم نـه دی تبـاه کـړی. بـولهبي شرارې، د مصطفوي څراغ ضد دی، خو پېژندنه یـې ده. شـیطان د الله دښـمن دی، ضـد یې دی، خـو پېژندنـه یـې ده. دا سـنة الله نـه ده، چې الله دې خپـل دښـمنان اصلاً ژوندي پرې نه ږدي. د الله قانون داسې دی، چې نه منونکو ته هم وایي چـې «تاسـو مـې مـه منـئ، زه بـه ستاسـو بینـایي وانـه خلـم. دنیـوي روزي بـه دربانديې ونه دروم. خپل احسانات به دربانديې کوم. تر سرکښۍ وروسته به هـم زما لور ته راګرځئ. او هغه ورځ به پوه شئ، چې تاسو څه کـول.» لـه الله نـه د چا بربادي مه غواړئ. د ټولو اصلاح، د ټولو خیر، د ټولو ښېګڼه غواړئ.

☆☆☆

مرګ د ژوند محافظ دی او ژوند د مرګ عمل دی.

☆☆☆

د غم شتمني ته هم په کمه سترګه مه ګورئ. د غم پانګه ډېر لـوی عنایـت دی. په هغه شخص لوی کرم دی، چې شپې یـې ویښـې شي او سـحرمهاله آه و اوښکې یې پـه برخـه شي. د غمځپلـو زړونـو دعـا لـه قومونـو مصـیبتونه لـرې کوي. د وروستۍ برخې شپې په ژورو تیارو کې بهېدونکې اوښکې د ملتونو لپاره ډیوې او څراغونه ګرځي. غم هغه جادو دی، چې عطار، رومـي، رازي، غـزالي او اقبـال زېـږوي. غـم کـه ذاتي هـم وي، تـاثیر یـې پـه ټولـه نـړۍ وي. غـم، کمزوری انسان رڅوي او قوي انسان ښېرازوي.

☆☆☆

یو کافر په خپل کفر ویاړي، یو مؤمن ولې په خپل ایمان فخر نه کوي!

☆☆☆

د ګل یوه ورځ ژوند د ازغي تر څو کالو ژونده غوره ده.

☆☆☆

د الله کریم وینا ده: «زما رحمت زما تر غضبه پراخه دی.» د دې الهي وینا مفهوم څه کېدلی شي، د لامحدود هر صفت لامحدود وي. یو لامحدود چې له بل لامحدود نه کم شي، نو څنګه دوام کولی شي. د خدای غضب، د غضب په توګه نه دی. الله که انصاف پیل کړي، نو غضب به وي. معنا دا چې د هغه رحمت تر انصافه ډېر پراخه دی. معنا یې دا شوه، چې که مور ته زمور له اعمالو سره سم عبرت را کول شي، نو زمور کامیابي د اندېښنې وړ ده. مور یوازې د رحمت په اسره نجات مونډلی شو، بلکې د رحمة للعالمین اسره زمور د خلاصون لاره ده. معنا یې دا شوه، چې له الله څخه د خپلو اعمالو په حواله باید انصاف ونه غوښتل شي. له هغه یوازې د رحم ارزو بویه. شفاعت رحمت دی او انصاف غضب، او رحمت په غضب برلاسی دی.

☆☆☆

ژوند له عاید او لګښته پرته هم ډېر څه ده. دې کې څېرې هم شته او سترګې هم.

☆☆☆

د هر علم خلاف یو علم دی. د خپل علم له مخالفو علومو څخه د ځان ساتنې علم هم باید ولرو. څراغ لګول اسانه دی. له طوفانونو ژغورل یې اړین هم دی ستونزمن هم. د هر ارمان مخالف ارمان هم موجود وي او د هر انسان دننه تضاد او بې یقیني یې په سم وخت کې تصمیم نیولو ته نه

deenodanish څخه ښکته شوی deenodanish.com له

پرېږدي. نېکمرغه انسان سم تصمیم نیسي او سم ګام په سم وخت کې پورته کوي. پایله یې رب ته سپاري.

☆☆☆

د بښونکي په نزد د ګناه څه ارزښت؟ د عطا په مخکې د خطا څه ذکر؟

☆☆☆

مور په یوه ټولنه کې ژوند تېروو، خو د رب په نزد فرد، فرد ځواب ویونکي یو.

☆☆☆

د هر انسان رزق د هغه د بدن په یوې برخې کې خوندي دی. د دغې برخې ساتنه وکړئ. مثلاً د لیکوال روزي په ذهن او یادداښت کې ده. په قلم کې ده. د ویناوال په ژبه کې. د سندرغاړو د غاړې په اواز کې. ان د ځینو رزق یوازې په څېره کې دی. د ځینو روزي د لاس په قوت کې ده. د ځینو په درغلۍ او فریب کې. د ځینو په ایمان کې. د ځینو په بې ایماني کې. د ځینو رزق په معلولیت کې وي. د معصومو ماشومانو رزق د هغوی په معصومیت کې دی. په ځینو هېوادونو کې جنسي کاروبار هم د اقتصاد یوه برخه ده. لنډه دا چې انسان د خپل بدن د یوې برخې په مټ د خپلې ګېډې خدمت کوي. سفر کوونکي او توریستان د سفرنامو په لیکلو خپل رزق ترلاسه کوي. په لویو، لویو استانو کې لنګرونه پخېږي. تاسو پوهېږئ، چې دغه رزق له کومه راځي؟

☆☆☆

یوه ملګري بل ته وویل، «تا هغه کیسه اورېدلې ده؟» ملګري ځواب ورکړ، «نه، ما یوه بله کیسه اورېدلې ده.»

☆☆☆

تر مرګه ډېر وېروونکی شی، له مرګه ډار دی.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

د هغه شي یادونه مه کوئ، چې لیدلی مو نه وي او د هغه شي به هم څه یادونه وي، چې ښکاره یې نه شې کړی.

☆☆☆

مشرق او مغرب په همدې ځمکه دي. په اسمان کې مشارق او مغارب نشته. اسمان بې لوری او بې جهته دی.

☆☆☆

د خطرونو په شتون سربېره، ژوند تر ټاکلي وخته مخکې پای نه شي موندلی او له احتیاط سره، سره ژوند تر ټاکلي وخته ډېره بقا نه شي کولی.

☆☆☆

چې سترګې ونه لرې، د نندارې څه ګناه؟ چې زړه دې حضور ونه لري، د حقیقت قرب په څه معنا؟ د سفر هیله چې نه وي، د سفر جزا په څه معنا؟ زړه دې چې مومن نه وي، د خولې کلمه د کوم درد دوا؟ د هدف فیض او برکت انسان سفر ته آماده کوي. د کوم شي چې هیله شوې وي، هماغه به د هیلې پایله وي. یانې پخپله هیله، د هیلې پایله او حاصل دی. د حقیقت په سفر کې نیت هم حقیقت او سفر هم حقیقت.

☆☆☆

سترګې مو د آسمان په لور ونیسئ، خو دا مه هېروئ، چې پښې په ځمکه ایښودل کېږي.

☆☆☆

د بې اعتدالي تر دې لویه سزا څه کېدلی شي، چې د خوړو په ځای به درمل خوړې.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

د هغه په لوړينو الحمدلله او په خپلو تېروتنو استغفرالله بايد تل په ژبه جاري وي.

☆☆☆

د دوو انسان ترمنځ داسې خبرې ـــــ چې اوربدونکی وانګېري چې رښتيا دي او ويونکی پوهېږي چې دروغ دي ـــــ چاپلوسي بلل کېږي.

☆☆☆

په بې رنګه ځمکه کې له بې رنګه تخم او بې رنګه اوبو څخه رنګونه څنګه را وتوکېدل؟

☆☆☆

له تسليمي وروسته، د امر منکر شيطان دی.

☆☆☆

بسنه نه کوي، چې يو مسلمان دې يوازې اهل قران وي. له قرآن مبين راوړونکي ص سره قوي نسبت هم ضروري دی. د قران کريم اصول د نبي کريم ص ژوند دی. يا دا چې د نبي کريم ص په ژوند او د ژوند په قرآني اصولو کې فرق نشته. تر دې چې د قرآن کريم تر نزول له مخه هم د نبي کريم ص ژوند له قرآني اصولو سره برابر وو.

☆☆☆

زمور د ژوند تر ټولو لويه پېښه دا ده، چې ګڼ موخيزه يو. د نن ورځې انسان په يوه وخت کې لسګونه کارونه کوي او غواړي ويې وکړي. ډېرو خواوو سره وابستګي په انسان کې مستقل مزاجي له منځه وړي. د نن ورځې انسان د کمپيوټر غوندې ژوند تېروي. په ماشيني دور کې پايېدونکی انسان د مشين

برخه ګرځېدلی دی. له جذباتو بې برخې، نا اشنا ـــــ نه لـه مینې سره اشـنا، نه له وفا خبر. نه له غمه تېرېږي، نه خوشالي پېژني. د نـن ورځـې تراژیـدي دا ده، چې نن ورځ هېڅ تراژیدي نشته. تراژیدي مړه شوې ده. د نن ورځـې ژونـد نه مرثیه ده او نه قصیده. انسـان ګـن ژوندونـه تېـروي او حتمـي ده، چـې ګـن مرګونه به ویني. له ګن موخیزه ژوند نه اصلاً بې موخې ژونـد جـوړېږي. د ټولـو یار، د هیڅا یار هم نه وي. د چا چې له هر چا سره اړیکه پرې وي، د هغـه لـه ځان سره هم اړیکه نه پاتې کېږي. یوازې صورت د انسـان پـاتې دی، صـفات یې ټول بدل شوي دي. په انسان څه شوي دي؟ یوازې همدا ویلـی شـو، چـې انسان چې څه وو، اوس هغه نه دی. ممکـن پـه کومـه پېښـه کـې انسـان مـړ شوی دی او اوس یې یوازې کالبوت پاتې دی.

☆☆☆

تر څو چې په سترګو کې اوښکې وي، انسان د خدای تصور نه شي پرېښودلی.

☆☆☆

منافقت انسان د الله تعالی له قربته بې برخې کوي. منافق هغه شخص هم دی، چې له اسلام سره مینه کوي او لـه مسـلمانانو سره دښـمني. منـافق هغـه هم دی، چې په ظاهر او باطن کې یې فرق وي. په خلـوت او جلـوت کـې یـې فرق وي. هغه چې خبرې یې رښتیا او ژمنـې یـې دروغجنـې وي. هغـه چـې لـه دښمنانو سره په خندا، خندا خبرې کوي او په ملګرو پسـې ملنـډې وهـي. هغـه چې له احسان کوونکو سره وفا نه کوي. هغه چې له انسانه مننه نه کوي خـو د خدای حمد بیانوي. هغه چې د امانت ساتنه نه شي کولی. هغـه چـې لـه ځانـه بهتره انسان یې تر سترګو نه ورځي. هغه چـې خپـل دمـاغ تـر ټولـو لـوی دمـاغ ګڼي. هغه چې پـه دې نـه شي پوهېـدلی، چـې الله کلـه وغـواړي، د غټـې لـه نازکې ځالې هم یو قوي دلیل پیدا کولی شي.

deenodanish ځخه ښکته شوی له deenodanish.com

☆☆☆

د الله تعالی قول دی، چې د مور او پلار په وړاندې اف هم مه کوئ. رټئ يې مه، په نرمه ژبه ورسره خبرې وکړئ. په زړبودي کې يې داسې خدمت وکړئ، چې په ماشومتوب کې يې ستاسو خدمت کړی وو ـــــــ نن ورځ دغه حکم ستاسو لپاره دی، سبا به همدا حکم ستاسو د اولاد لپاره وي.

☆☆☆

زمونږ عقیده یوه ده او زمونږ اړتیا بله. فکر مو د یوه محفل دی او زمونږ محفل د یوه بل فکر دی. که زمونږ ملګری، په عقیده کې را خپل نه وي، نو څوک به له چاسره وفا کوي او څوک به له چا نه ګیله کوي. د عقیدې تر انتخاب وروسته د ژوند انداز او ملګرو انتخاب هم اړین دی. له روژې پرته روژه ماتی او د روژې په شتون کې په حرامو شیانو روژه ماتی د ګمراهي دلیلونه دي. له اسلام سره ټوکې دي. اسلامي ډرامه او د ډرامې اسلام؛ له الله وېره پکار ده. څوک پوهېږي، چې کله به څه کېږي!!

☆☆☆

دا د الله تعالی دعوه ده، چې وما ارسلنک الا رحمة للعلمین. هغه خپل حبیب د جهانونو لپاره رحمت را استولی دی. دا باید په یاد ولرو.

که د حساب په ورځې د خپلو اعمالو د کمښت له امله او له کبریايي جلاله وېره او لړزه دربانديې راشي، نو دا مو باید یاد وي، چې د الله د حبیب یوازې نوم هم د شفاعت وسیله ګرځېدلی شي.

اوس مې د ګناهونو له حسابونو نه را تېر شه

اوس مې واسطه ستا د محبوبﷺ درته راوړې ده

☆☆☆

له deenodanish څخه ښکته شوی

زمونږ ټول خصوصیات مونږ بریالیتوب ته نه شي رسولی. په هر انسان کې یو خاص صفت وي، چې که وده ورکول شي، نو انسان پرې بریالیتوب ته رسېدلی شي او هماغه صفت د الله د رضا د ترلاسي ذریعه وي. همدا وجه ده، چې یو چا څنګه او یو چا څنګه، څه او څه وکړل. ځینې خلک یوازې په عبادت زور کوي او ځینې خلک یوازې په خدمتِ خلق. ځینې حضرات شپې په ویښه تېروي. ځینې دروېشان یوازې سفرونه کوي. چا شاعري د ابلاغ وسیله ګرځولې. چا په نثر کې خبره کړې. څوک په اشارو خبرې کوي او ځینې خلک له مودو راهیسې غلي دي او په دې خاموشي کې د خبرو اترو جمال را پیدا کوي. هر سړی هر کار نه شي کولی. دا د خدای ورکړه ده. څوک طالب، څوک مطلوب، څوک ښوونکی څوک شاګرد، څوک شیخ څوک مرید، څوک هدف ښود، څوک د لارې ښوونکی، څوک سیاح، بلکې ځینې خو جهان ګرد، څوک مکاني او څوک لامکاني، څوک ناز، څوک نیاز او څوک بیا د بې نیازه نیاز، څوک د جهانونو فخر، څوک د لامکانونو شاهین، څوک د حق بازو او باطل شکن، څوک د نیاز سجده، څوک صاحب الرسول، څوک نائب الرسول، څوک غوث الثقلین، څوک قدوة السالکین، څوک زبدة العارفین، څوک د نړۍ لپاره د برکتونو خزانه، څوک ظلِ نورِ الهي، څوک زبد الانبیاء، څوک محبوب الهي، لنډه دا چې ځینې یو څه دي، ځینې بل څه. د هر یوه انداز بېل بېل، ورکړه بېله، د ښوونې روزنې طریقه بېله؛ یو ځای د قوالي نغمې دي، بلې خوا سماع ته حرام ویل کېږي. په اصل کې ټول رښتیا وایي. خو اوس د بشپړ فیل د لیدو وخت دی. نو غوره همدا ده، چې د کلیمې په وحدت، د نبي کریم ص په مبارک ذات له بشپړ ایمان سره په یوه ستر وحدت کې را ټول شو. د لارې خوندونه بېل دي، خو مدعا او هدف یو دی. یوازې شریعت څرګنده او بشپړه لاره ده. په ګډه مو که سفر پیل کړ، قوم به پیشرفت وکړي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

قرآن هم هماغه، شریعت هم هماغه، د خدای حبیب ص هم هماغه. لـر، سپورمۍ او ستوري هماغه، زوکړه او مړینه هم هماغه، خو ژونـد هغـه نـه دی، ټولنـه بدلـه ده. غـور وکـړئ، چـې څـه شـی بـدل شـوي دي. اوس سـکون او خوشالي په څه ډول ترلاسه شي. په دې زمانې کې، د دې زمانې انسان تـه پـه دې ژونـد کـې د کتـابونو لوسـتلو خـبره نـه ده، د غـور خـبره ده. ژونـد د کفـري تهذیب په لور رهي دی. پایله یې څنګـه اسـلامي شـونې ده. ماشـومانو تـه پـه ښوونځیو کې انګریزي ور زده کوئ او تمه ترې څه کـوئ. د تضـاداتو پـه ژونـد کې سکون ناشونی دی.

☆☆☆

د انسان زړه ماتوونکی، د الله لټون نه شي کړای.

☆☆☆

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پـه خـبره د یـو بـل چـا خـبرې تـه لـوړاوی ورکول داسې دی، لکه شرک.

☆☆☆

انسان چې څومره خواري د عیب په پټولو کوي، پـه همـدومره خـواري هغـه عیب له منځه وړلی شي.

☆☆☆

د مرشد یوازې خبره هم رشـد (کامیـابي) ده. لـه مرشـد سره اړیکـه «علـم» دی. د مرشد خوشالي بریا ده، د مرشد له خفګانه ـــــ باید ځان وژغورو.

☆☆☆

د مرشد په خبره داسې یقین وکړئ، لکه یو معصوم ماشوم چې د خپـل مـور

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

او پلار په خبره یقین کوي. د بې باورۍ په دې دور کې د باور لاسته راتلل تر کرامته کم نه دی.

☆☆☆

د نورو نیمګړتیا، ستاسو ښېګڼه نه شي کېدلی.

☆☆☆

کـه سـکون غـواړئ، د نـورو سـکون مـه ور بربـادوئ. کـه لـه خدایـه ښښـنه غواړئ، خلکو ته ښښنه وکړئ. که د خدای احسـان غـواړئ، پـه خلکـو احسـان وکړئ. که خلاصون غواړئ، نو د ټولو خلاصون وغواړئ.

☆☆☆

چې سترګه زړه وګرځي، نو بیا زړه سترګه شي.

☆☆☆

د طریقت په لاره کې طالب چـې کـوم شخصـیت خپـل رهـبر، شـیخ، گـرو، مرشد، پیر یا هادي ګڼي، د هغه حکم ته دې بې چون و چرا په خوشـالۍ غـاړه کېږدي. یوه لاره هم لـه رهـبر پرتـه نـه شي لنډېـدلی. د شـیخ صـبحت د علـم ذریعه ده، د عمل تګلاره ده او د نجات وسیله ده.

☆☆☆

سیف الله، یدالله، عبدالله، بیت الله، رسـول الله، ولـی الله، غیـرالله، ماسـوا الله، حدود الله، په دې ټولو پوهېږو. د وجه الله په اړه مو څه نظر دی؟

☆☆☆

هېڅ داسې شی باید ونه وکارول شي، چې د انسان ذهن له نارمل حالتـه پـه بلـه اړوي. له مخدره او نشه یي توکو پرهېز د بدني او روحاني روغتیا لپاره اړین دی.

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

کښتۍ چې په ډوبېدو شي، نو پکې ناستو خلکو ته خدای پخپله ور یاد شي.

☆☆☆

غم د عروج سبب هم دی او د زوال سبب هم.

☆☆☆

مور پیسې د دې لپاره ګټو، چې ژوند وکړو او ژوند د دې لپاره کوو، چې پیسې وګټو.

☆☆☆

ژوند په خپل ذات کې د ژوند هدف نه دی. د ژوند هدف خو حیاتِ جاویدان دی.

☆☆☆

مور په سر بوج بار کړی، د نورو ـــــــ او چې لږ لږ ولاړ شو، ټول بوج ښکته وغورځوو او پټه خوله په نامعلومه دنیا کې ورک شو.

☆☆☆

له توبې وروسته د ګناه یاد هم ګناه ده.

☆☆☆

ژوند خدای در کړی دی، د خدای لپاره یې وکاروئ. شتمني خدای درکړې، د خدای په لاره کې یې وکاروئ.

☆☆☆

زده کوونکي د هېواد وارثان وي.

☆☆☆

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د دنیا مینه تیاره ده، د اخرت مینه رڼا. تیارې فنا لري، نور بقا. له فنا څخه د بقا د لارې لپاره له خدایه فضل وغواړئ. د خدای فضل د الله د حبیب ص په مینه کې دی.

☆☆☆

د بدن په یوه برخه کې چې درد وي، ټول بدن ورسره رنځېږي. د فکر یوه برخه چې ټپي شي، ټول فکر ورسره پراګنده شي. د ایمان یوه برخه که کمزوري شوه، ټول ایمان به ورسره کمزوری شي. روغتیا د ټول بدن د روغتیا نوم دی، ایمان د بشپړ ایمان نوم دی.

☆☆☆

تر ټولو ښکلی انسان هغه وي، چې په لومړي ځل لیدو یې په زړه کې ووایې: « دغه سړی مې تر اول ځل نه، اول هم لیدلی دی.»

☆☆☆

که د حرام مال ګټونکی بخیل هم شي، نو په غبرګ عذاب اخته دی.

☆☆☆

تر علم مخکې زمانه د جهالت دور بلل کېږي.

☆☆☆

د چا احسان خپل حق مه ګڼئ.

☆☆☆

په نړۍ کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم درود ذات یوازینی ذات دی، چې تل ورته د نعتونو ډالۍ وړاندې شوې ده. په نړۍ کې د هېڅ انسان دومره تعریف نه دی شوی او نه به وشي. الله، د الله پرښتې، د الله بندګان ټول

يوازې تعريف بيانوي، د الله د حبيب ص!

سبحان الله ما احسنک

☆☆☆

توبه چې قبوله شي، بيا هغه ګناه هېڅ کله له سړي نه کېږي.

☆☆☆

لطيف روحونه په مجلس کې لطافت پيدا کوي او کثيف روحونه، کثافت.

☆☆☆

که خواهش دې غلط وي، نو د خواهش حسرت، د خواهش تر پوره کېدو ډېر غوره دی.

☆☆☆

ګناه د يوه بد د ترسره کېدو نوم دی. داسې وخت هم راځي، چې انسان د هغو ارادو په نه پوره کېدو هم شکرونه کوي، چې غلطې وې.

☆☆☆

د الله او د الله د حبيب صلی الله عليه وسلم مينه د ژوند او د ژوند تر هر بلې مينې بايد غوره وګڼل شي.

☆☆☆

د نعمت شکر دا دی، چې د هغه چا په خدمت کې وکارول شي، چې دغه نعمت ورسره نشته.

☆☆☆

هغه انسان دروغجن دی، چې د رښتيا ويلو پر مهال غلی وي يا داسې خبره وکړي، چې ابهام وزېروي.

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

د اسمان زرګونو ستورو ته په یوه وخت کتونکې سترګه، خپل ځان نه شي لیدلی. شیخ هغه هینداره ده، چې مور ته خپل ځان را پېژني. د دې امکان هم شته، چې کوم شي ته چې مور نن خوشاله یو، زمور لپاره د مصیبت سبب وي او په کوم شي چې نن افسوس کوو، سبا ورځ زمور لپاره د نېکمرغۍ سبب وي. شیخ زمور د خوښۍ او ناخوښۍ اصلاح کوي او د دین لاره د مینې په مټ پر مور اسانوي. مرشد له ارشاد پرته هم زمور اصلاح کولی شي.

☆☆☆

په ژوند کې زمور نومونه او جامې مختلفې وي. شتمن، نېستمن، کشر، مشر، افسر، ماتحت، ډاکټر، انجینر، استاد، شاګرد، او داسې نور. خو له مرګه وروسته زمور د ټولو یو نوم شي: «مړی».

☆☆☆

انسان چې په کوم کیفیت او عقیده ومري، له هماغه سره به بېرته را پورته کېږي. دعا کوئ، چې د تلو په وخت کې مو کلیمه په نصیب شي.

☆☆☆

همدا ژوند دنیوي دی، همدا ديني او همدا روحاني. زمور فکر چې بدل شي، د ژوند نوم مو هم ورسره بدل شي.

☆☆☆

اضطراب په اصل کې د هغه فرق نوم دی، چې زمور د خواهشاتو او زمور د حاصل ترمنځ پاتې وي. زمور چې تمې پوره نه شي، په اضطراب اخته شو. خواهشات او توقعات باید اصلاح شي.

☆☆☆

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مور، ژوند د فرعون غواړو او عاقبت د موسی ع.

☆☆☆

ښکلا ته نړدېکت د انسان حال او خیال دواړه ور بدلوي.

☆☆☆

له صاحبِ حال سره تعلق، له انسانه صاحبِ حال جوړوي.

☆☆☆

هغه شخص خدای نه مني، چې د خدای حکم نه مني.

☆☆☆

اسلام د مسلمانانو د وحدت کیسه ده. که مسلمانان یو نه شول، نو د اسلام له دینه به وویستل شي. د مسلمانانو منظم اتحاد د اسلام عروج دی.

☆☆☆

انسان د خپل ملکیت، ملکیت ګرځېدلی دی. انسان د خپل ځان په حفاظت، حفاظت کې نامحفوظ شي. خطره د انسان له خپل درونه ده. تنفس له دننه خرابی کوي.

☆☆☆

د خدای تر راضي کولو له مخه دا تحقیق اومرو وکړئ، چې خدای درنه ناراضه هم دی که نه. هغه څوک اومرو راضي کړئ، چې د خدای د ناراضه کېدو خبر درکوي.

☆☆☆

د نېکي نوم اخیستل هم نېکي ده. نېکه خبره اوربدل هم نېکي ده. نېک مقام ته کتل هم نېکي ده. له نېک انسان سره لیدل هم نېکي ده. د نېکو

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خلکو تذکره هم نېکي ده. نېک فکر هـم نېکـي ده. نېـک علـم هـم نېکـي ده. نېک عمل خو خیر هسې هم نېکي ده.

☆☆☆

یوه له بله وپوښتل: «وروه، له راتلونکو حالاتو خبر یې؟» بـل ځـواب ورکـړ: «لا خو له تېرو حالاتو نه یم وزګار شوی.»

☆☆☆

زوی چې ناروغ شي، نو د دعا غوښتلو سلیقه پخپله د مور زده شي.

☆☆☆

شکر وکړئ، نعمتونه به مو خوندي شي. سترخوان مو پراخه کـړئ، رزق بـه مو زیات شي. سـجده وکـړئ، تقـرب بـه ومـومئ. درنـاوی وکـړئ، درنـاوی بـه ومومئ. صدقه ورکړئ، مصیبتونه به مو لرې شي. توبه وکړئ، ګناهونـه بـه مـو وبښل شي.

☆☆☆

د مرید خپل صداقت او عقیدت، دی تر خپله هدفه رسوي. که منـزل یـې پـه برخه شي، نو د شیخ په کمال کې څه شک؟ که مرید هدف ته ونه رسـېده، نـو د شیخ د کامل بودن یا نه بودن څه یادونه؟ نېکمرغه مرید په هر حال کـې د خپـل شیخ منندوی وي او بدمرغه تل د خپلو نیمګړتیاوو لپاره خپل شیخ مسؤل نیسي.

☆☆☆

په ژوند کې د ښو خلکو راتلل پخپله د ښه راتلونکي ضمانت دی.

☆☆☆

تر ټولو غوره کلام هماغه دی، چې الفاظ یې کم او معنا یې ډېره وي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

عروج هغه وخت ته وایي، چې وروسته ترې زوال شروع کېږي.

☆☆☆

سیند له غرونو ځان ور ټولوي او په هوارو کې ځان هواروي. له خپلو حالاتو سره سم باید سفر وشي. انسان چې له خپلو حالاتو دباندې ووځي، خور وور شي. سفر شرط دی. د سفر انداز، د مسافر د حالاتو په اندازه.

☆☆☆

د نبي وراثت چې میراثي نه دی، نو د اولیاوو وراثت څنګه میراثي شو؟ د ځایناستي تصور د غور وړ دی.

☆☆☆

فکر پکار دی، چې یو حادث له قدیم سره څنګه مینه کوي؟ له لیدو پرته مینه څه معنا لري؟ یو انسان په یوه وخت کې بنده او عاشق څنګه کېدلی شي؟ په دې غور پکار دی. خو انکار نه.

☆☆☆

که بام را غورځېده، منډه واخلئ او که اسمان را غورځېده، ودرېږئ.

☆☆☆

هغه خطر چې له پېښېدو وړاندې احساس شي، پوه شئ، چې مخنیوی یې شونی دی. د دې خطر د مخنیوي لپاره د دعا وسله ده. الله تعالی دې مورِ له هغو خطرونو وژغوري، چې د نړۍ راتلو احساس یې لا راسره نشته.

☆☆☆

په چا چې د خدای رحم وي، له هغه نه د خپل در ګدا جوړ کړي. کوم

څوک چې له رحم نه بې برخې وي، هغه د دنیادارو دروازو تـه ځـي او کچکـول یې ورته نیولی وي. له ربه دعا وغواړئ، چې په مورِ داسـې کـوم مصـیبت را نـه شي، چې له خدایه مرسته غوښتل مو هېر شي.

☆☆☆

د یوه ماشوم په زوکړه او پالنه کې د پېړیو، پېړیـو خـواري او تجربـه پـه کـار ولېږي. د انساني ژوند د بقا لپاره الله تعالی سپوږمی، لمر، ستوري، خـاوره، هـوا او اوبـه خلـق کـړې دي. ژوي، مرغـان، بـوټي، تېـږي و کـانې د بشـري ژونـد خدمت ته سترګې په لار وي. الله له کومو، کومو لارو دنیا تـه رزق رسـوي، پـه حیرانتیا د لیدو وړ خبره ده. په تیره کې پټ چینجي ته هم روزي ور رسوي. که کوم شخص د مخلوق تباهي وغواړي، نو د پالونکي رب به هغه شـخص څنګـه خوښ شي. د مخلوق خیر غوښتونکی الله ته خـوښ دی. نـوح علیـه السـلام د خپل امت لپـاره د اوبـو عـذاب وغوښـته. خپـل زوی یـې هـم د همـدې تبـاهي قرباني شو. الله تعالی کله دا خوښوي، چې تباهي غوښتونکی ان دا محسـوس هم نه کړي، چې د نورو د زامنو لپاره تباهي غوښتل څنګه وي.

☆☆☆

د شتمن سخاوت د الله په لاره کې د رزق وېش دی او د نېسـتمن سـخاوت د رازق وېش ته په تسلیمېدو کې دی. هغـه نېسـتمن سـخي دی، چـې د نـورو مال ته له کتو او د هغه له غوښتو لاس واخلي.

☆☆☆

هغه شخص چې د دین په لاره د تلو لپاره نه ورسره وخت وي او نه طبیعت، هغه د خپلې ناکامي په اړه نور څه ویلی شي!

☆☆☆

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لمر لرې دی، خو رڼا او تودوخه یې نږدې.

☆☆☆

زمور بدترینه دښمن هغه دی، چې ملګری مو شي او ژوند ته مو راننوځي او زمور بدترینه ملګری هغه دی، چې دښمن مو شي او رانه بېل شي.

☆☆☆

هغه انسان چې په خپل حال مطمئن نه وي، هغه به په راتلونکي هم مطمئن نه وي. اطمینان د حالاتو نوم نه دی، د روح د یوه حالت نوم دی. مطمئن شخص نه ګیله کوي، نه تقاضا.

☆☆☆

د ژوند د کامیابي قضاوت به د ژوند په پای کې کېږي.

☆☆☆

تر ټولو ډېر خطرناکه دښمن هغه انسان دی، چې له مسافر نه د سفر ذوق وتروړي.

☆☆☆

په نېستمنو د مال وېش نېکي ده. له شتمنو څخه د مال تروړل ګناه!

☆☆☆

له یوه اړخه چې وګورې، ګناه یوه ناروغي ده. له بله اړخه چې وګورې، نو ناروغي یوه ګناه ده.

☆☆☆

په خپل ژوند کې چې څومره زړونه خوشاله کړو، په قبر کې به مو هماغومره څراغونه بلېږي. زمور نېکۍ زمور مزارونه رڼا کوي. د سخي سخاوت د هغه د قبر ډیوه ده. زمور خپل صفات زمور لحد خوشبویه کوي. تر ژوند وروسته

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پکارېدونکي څراغونه په همدې ژوند کې روښانه کېږي. هېڅ نېکي هم نه ضایع کېږي.

☆☆☆

له ربه هغه څیزونه وغواړئ، چې د خدای په لاره کې د لګولو په وخت کې درته ستونزمن نه وي. له خدایه غوښتلي نعمتونه د خدای لپاره وقف کړئ. هغه که ژوند هم وي.

☆☆☆

هغه شخص پوره مؤمن نه شي کېدلی، چې خپل رزق په سبب پورې اړوند ګڼي. د هغه شخص هم ایمان بشپړ نه شي کېدلی، چې په نړۍ وختونو کې یې د ژوند په ختمېدو یقین نه وي.

☆☆☆

کوم انسان چې په هغه وېش راضي وي، چې الله ورته په تقدیر کې لیکلي. هغه له خدایه راضي دی او څوک چې له خدایه راضي شو، خدای له هغه راضي شو. معنا یې دا شوه، چې د الله د رضایت تر ټولو اسانه لاره دا ده، چې د الله او د الله په هر کار خوشاله اوسئ.

☆☆☆

زمور په هېواد کې ټول مسلمانان دي. غلا څوک کوي؟ لوټماري څوک جوړوي؟ جعلکاري څوک کوي؟ ګټې څوک خوري؟ چې ټول مسلمانان دي، نو د اسلام له غوښتنو سره برابره ټولنه چېرته ده؟ څوک، د چا، څنګه اصلاح وکړي؟ همدا د اوسني وخت اړتیا ده. د اسلام تر تبلیغ له مخه د اسلامي معاشرې د قیام وخت دی. په اسلامي ټولنه کې به نه څوک محروم وي، نه مظلوم.

☆☆☆

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

الهي وار هم له هغه چا سره وي، چې شبيري سجده ورسره وي.

☆☆☆

د ټپي خنځير د پانسمان کوونکي مسلمان په اړه ستاسو څه نظر دی؟

☆☆☆

د غره ځوکې ته د رسېدو لپاره به ګڼې لارې شتون لري، خو د مسافر لپاره يوازې يوه لاره وي.

☆☆☆

د خدای له رحمته، انسان هغه وخت ناهيلی کېږي، چې کله له خپل راتلونکي ناهيلی وي.

☆☆☆

قرآن کريم د الله کلام دی. کاينات د انوارِ الهي هينداره ده او انسان د تخليق شاهکار. د خدای هر کار سپېڅلی او اعلی دی. په تخليق کې هېڅ شی هم باطل نشته.

☆☆☆

د يوه بزرګ په تلين مو کله غور کړی. څه، څه نه پکې کېږي. د مستانو، بلکې سرمستانو، بلکې دما دم مست دروېشانو خېمې يوې خوا ته ننداړې کوي. اورونه بل وي يانې «خمار» لګېدلی وي. د دې خلکو د خوراک و څښاک اداب بېل وي. يوه لوري ته د قوالي محفل روان وي، هلته هم خلک نڅا کوي. په قوالانو د پيسو باران وي، د هماغه بزرګ په نوم چې تلين يې وي. بلې خوا ته د شيدو ويالې بهېږي. دغه شيدې له ملاوټه پاکې وي. ځينې کسان ډول او باجو ته زلفې او سرونه اچوي. نعت خواني کېږي. شيريني وېشل کېږي. دوکانونه سينګارېږي. د ماشومانو زانګوګانې، تياتر، د سېنما

نندارې. اوس تاسو پخپله وګورئ، چې په هغه بزرګ به څه تېرېږي، چې د خدای په یاد کې یې څراغ روښانه کړی وو. له بزرګانو سره د تعلق اظهار باید د هغوی په پلونو پسې د تلو په مټ وشي. علي هجویري رح لاهور ته د کوم بزرګ زیارت ته د حاضري لپاره نه وو راغلی. د دین تبلیغ ته راغلی وو. همدا شان، غریب نواز رح اجمیر شریف ته په کومه خانقا کې د حضوري لپاره نه وو راغلی. په یوه رسالت راغلی وو. مورږ باید غور وکړو. د دې خبرې وضاحت دې له خپلو، خپلو شیوخو وغوښتل شي.

☆☆☆

د نن ورځې انسان ته د مرګ تر خطره، د نېستي خطر ډېر ور پېښ دی. لومړی د نېستمن اقتصادي حالت اصلاح کړئ، بیا یې د ایمان غم وخورئ.

☆☆☆

د خدای په نوم شوی خیرات د انسان په درد خوري. د الله په لاره کې لګښت انسانانو ته ګټه رسوي. زکات د انسانانو په ګټه پرېوځي. خدای ته قرضِ حسنه ورکول، انسان ته قرض ورکول دي. نوم د خدای دی، خو ګټه یې انسان ته ده. انسان لګښت کوي، انسان ته یې ګټه رسېږي او خدای خوشالېږي او راضي وي. معنا دا چې د خدای د خوشالي او رضایت لپاره د انسانانو خدمت باید وشي.

☆☆☆

له هغه ملګري سرټکوې، چې دوکه یې درکړې ده. ګیله له خپل عقل نه وکړه، چې دوکه باز شخص دې دوست ګڼلی وو.

☆☆☆

په دعا د ترلاسه کړي نعمت هماغومره قدر دانی وکړئ، څومره چې د نعمت

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

درکوونکي کوئ. د دعا حاصل ته په درنه وګورئ. دعا قبلوونکی به خوشاله شي.

☆☆☆

د ګناهګار په عیبونو پرده اچول، د نېکي په لور راوستو ته یې یوه ذریعه کېدلی شي. بدنامي ځینې وختونه انسان ناهیلی کوي او له لاس و پښو یې اچوي او همداسې په ګناهونو کې خپله لاره ورکه کړي. عزتِ نفس چې ختم شي، د انسان لپاره جرم او ګناه بې معنا غوندې شي. د نېستمنو عزت نفس ژوندی کړئ. هېڅ څوک بدمعاش مه بولئ. په همدې ویلو ترې بدمعاش جوړېږي. پوره نوم یې اخلئ. اولیاوو به په مینه د ګناهګارانو اصلاح کوله. د دې برعکس، له عادي مجرم څخه د پوخ مجرم جوړولو کې د ظالمې معاشرې لاس له ورایه ښکاري. دغه مجرم او دغه ګناهګار زموږ د خپلې ټولنې برخه دي. که د دغو اصلاح شوې وی، په شمېر کې به یې زیاتوالی نه وو شوی.

☆☆☆

قصیده، مرثیه، قوالي، سلام یا په مسالمې د شهادت مقام نه شي درک کېدلی، نه پرې د شهادت موخه پوره کېږي. د امام رض توصیف او تعریف په خپل ځای، خو تقلید او عملي تایید به یې څوک کوي ـــــ کربلا د کوم وعظ نوم نه دی. د یوه عمل نوم دی. د کربلا محسوونکي ته یو پیغام دی. یوه مشاهده ده، د ولیانو د سلطان خپل رب ته د تسلیمېدو مشاهده؛ اجازه ده د کربلا د شهیدانو د خاکسارانو لپاره چې هغه څراغ تل روښانه وساتي، چې امام رض په خپله وینه روښانه کړ.

☆☆☆

د خواهش پوره کوونکی بزرګ یو دی او له خواهش څخه ژغورونکی بزرګ بل.

☆☆☆

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دومره خواره شئ، چې ټولېدل درتـه مشـکل نـه وي. دومـره لاسـته راوړئ، چې د پرېښودو په وخت کې يې په تکليف نه شئ.

☆☆☆

شيطان انسان ونه مانه، خدای لعنـت پـرې وويـل او دباندې يـې وشـاړه. د انسان دښمن ته خدای خپل دښمن وويلي. انسان که د خدای له دښـمن سره ملګرتيا وکړي، ډېر د افسوس ځای دی.

☆☆☆

دعا وکړئ، چې د خدای حضور ته کوم نېک عمل وړانـدې کـړای شـو. کـه نه وي، د يوه نېک عمل ارمان هـم بـس دی. خـدای دې نـه کـړي، چـې دې عذر ته پناه يوسو، چې زمانې مور ته د نېکي هېڅ فرصت را نه کړ.

☆☆☆

د واعظانو په ژوند کې د قول او فعل تضاداتو ته په کتو خلک له حق خبرې اوربدو تښتي. غوږونه يې بند کړي دي. لسـګونه زره جوماتونـه دي او لسـګونه زره امامان، خو قوم بې امامه ښکاري. ولې؟

☆☆☆

د خدای يادول، غږ ور کول، د هغه رحمت ته غږ کول دي، رحـمان تـه غـږ کول دي، رحيم ته غږ کول دي، ستار او غفار ته غږ کول دي. هېڅا قهـار تـه غږ ونه کړ ـــــ حال دا چې دا هم د خدای صفت دی. مور هغه صفت ته غږ کـوو، چـې زمـور ور پـورې بنـده وي. رزق ورکـوونکی، ښـنه کـوونکی، شـفا ښونکی، ژوند ورکوونکی، د نېکي توفيق ورکوونکی، معنا دا چې د خدای ټول صفات، د ټولو لپاره نه دي. له خدای نه عزت وغواړئ او د عـزت د تـرلاسي وړ کارونو علم تري وغواړئ. مور د خير په کاروان کې يو. زمور عاقبـت د خيـر لـه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خاونـدانو سره دی. د خـدای د محبـوب ص لـه میینـانو سره دی. د دیـن د مخالفینو عاقبت او د هغوی د انجـام پـه هکلـه خـدای پوهـه شـه او د خـدای برنامه. د دوزخ اور څه ډول انسانانو ته په تمه دی؟ لږ تـر لـږه د مسـلمانانو پـه تمه نه دی. د خدای د محبوب ص منونکی دوزخ ته نه شي تللی!!

☆☆☆

که کیفیت او خشوع نه وي، بیا هم د لمانځه کول حتمي دي. لـونځ فـرض دی، کیفیت یې فرض نه دی.

☆☆☆

د چا کور کـه اور اخیسـتی وي، نـو د اور پـه وجوهـاتو باندې لـه تحقیقـاتو مخکې د اور مړ کول فرض دي.

☆☆☆

د خوښونو د لوړو او هسکو په بیانولو سره د ژوند ټیټې او ژورې پای نه مومي.

☆☆☆

ژوند یوه سایه داره او مېوه داره ونه ده، چې د ساه اره یې مسلسل غوڅـوي. معلومه نه ده، چې کله به څه کېږي.

☆☆☆

خدای چې په کوم هېـواد، کومـه زمانـه او کومـه ژبـه کـې زېږولـی یـې، پـه هماغه هېواد، هماغه زمانه او هماغه ژبه کې هم عرفان موندلی شې.

☆☆☆

د هغه انسان ستاینه مه کوئ، چې عاقبت یې ځان ته نه خوښوئ.

☆☆☆

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سیند چې یو ځل له کوم ځایه تېر شي، تر ډېره خپل نښان پرېږدي.

☆☆☆

اسمان د لید حد دی او ستوري د سترګو فریب.

☆☆☆

بشپړ هغه شی وي، چې کومې زیاتونې ته اړتیا نه لري. نه ترمیم ته، نه تخفیف ته. فکر وکړئ، چې دین کله بشپړ شو؟ هغه وخت چې د دین څومره علم موجود وو، هماغه بسنده دی. په علم کې زیاتوالی، په عمل کې پوخوالی نه شي پیدا کولی. د نویو، نویو لارو موندونکی مسافر هدف ته نه رسېږي.

☆☆☆

په قرآن کریم کې د هرې ډلې یادونه شته. د تېرو امتونو. د هغوی د پیل او پایلې. د انبیاوو علیهم السلام یادونه ده. د شیطان یادونه ده. د متقیانو ذکر دی. د منافقینو ذکر دی، د شهیدانو ذکر دی، د صدیقینو ذکر دی، د صالحینو ذکر دی. د کاینات او د کایناتو د تخلیق ذکر دی. لنده دا چې د ژوند د هرې برخې یادونه لري. تاسو دا وګورئ، چې تاسو په کومې ډلې پورې تړاو لرئ. د هغې ډلې په اړه کوم احکامات راغلي. په غور یې وګورئ. ټولې خبرې د ټولو لپاره نه دي.

☆☆☆

په کافرانو راتلونکی عذاب د هغوی لپاره دی. زمونږ پکې څه کار. د منونکو لپاره د جنت زېری دی. که تاسو منونکي یاستئ، نو په زېرو ولې نه خوشالېرئ. آیا ستاسو په تسلیمي کې کوم فرق دی؟

☆☆☆

انسان له کړنلارې یا نظریې سره مینه نه شي کولی. انسان یوازې له انسان

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سره مینه کولی شي.

☆☆☆

د یادولو نوم درود دی، د ادب نوم فیض دی.

☆☆☆

د اهلِ ظاهر لپاره چې کوم مقام د صبر مقام دی. د اهلِ باطن لپاره هماغه مقام، د شکر مقام دی.

☆☆☆

پر ښارونو چې ټپوسان په ګرځېدو شي، نو د ښاریانو ژوند په خطر کې وي. ټپوس له ډېر لرې مردار پېژني.

☆☆☆

آیا تاسو په دې پوهېږئ، چې ولې ځینې شاعران داسې وي، چې یوازې ورځ یې نمانځل کېږي. ځینې شاعران داسې وي، چې تلین یې نمانځل کېږي. مثلاً د میا محمد بخش رض، وارث شاه رح، شاه حسین رض، بلهې شاه رح، شاه لطیف رح، خواجه غلام فرید رح، امیر خسرو رح تلین نمانځل کېږي. خو د اقبال رح ورځ نمانځل کېږي. ولې؟

☆☆☆

یو چا وپوښتل: «د باران څه ګټه ده؟» ځواب یې ورکړ: «زما پټی پرې اوبه کېږي.» بیا یې وپوښتل: «د باران څه تاوان دی؟» ځواب یې ورکړ: «زما د ورور پټی پرې اوبه کېږي.»

☆☆☆

د اوربدونکي شوق، د وینا وال ژبه تېزوي.

☆☆☆

له deenodanish څخه ښکته شوی

یوازې د یوه هدف ترلاسی بریا نه ده. بریا د هغه هـدف ترلاسـی دی، چـې له هغه پرته یا وروسته بل هېڅ هدف نه وي.

☆☆☆

کوم رهبر چې نا اهله وي، هغه له خپلو ملګرو سر ټکوي. که شوق مـو وي، چې لمر وبلل شئ، ځان کې رڼا پیدا کړئ.

☆☆☆

د روح له ژورو را ټوکېدلې خبره د روح ژورو ته اورمرو کوزېږي.

☆☆☆

هڅه او دعا وکړئ، چې هغسې چـې ظـاهر مـو ښـکلی دی، بـاطن مـو هـم ښکلی شي.

☆☆☆

دنیا زړه ده، خو نویوالی یې هېڅ کله نه ختمېږي.

☆☆☆

ستاسو عمر څومره دی؟ هغه نه چې تېر شوی، بلکې عمر هغه دی، چـې لا پاتې دی!!

☆☆☆

تعلیم، علم نه دی، ځکه چې:

علم ـــــــــ حسن ته د نږدېکت د هیلې بل نوم دی.

علم ـــــــــ عرفان او آګاهي ده.

علم ـــــــــ د معلوم نفي ده.

علم ـــــــــ د هستیو د رازونو څرګندتیا ده.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

علم ـــــــــ د جانان د قرب نندارە دە.

علم ـــــــــ د مزاج ماتوونکی دی.

علم ـــــــــ د خپلې ناپوهې تعین او تیقن دی.

علم ـــــــــ له مخلوق نه د خالق یا له خالق نه د مخلوق د پېژندو وسیله ده.

علم ـــــــــ د تسلیمېدو ځواک دی.

علم ـــــــــ د حافظې محتاج نه دی.

علم ـــــــــ له کتابخانو څخه د لاس اخیستو نوم دی.

علم ـــــــــ د تحریر نوم نه دی، د تقریر نه دی، د نظر نوم دی.

علم ـــــــــ د عمل تګلاره ده، که عمل ورسره نه وي، بې تعبیره خوب دی.

علم ـــــــــ زمونږ د فطرت د حدونو او قیوداتو دننه مطمئن او اطمینان بښونکی دی، نه د اندېښنو سبب.

علم ـــــــــ له بحثونو ډډه ده.

علم ـــــــــ له تعلق څخه سرچینه اخلي او د تعلق لپاره وي.

علم ـــــــــ تر هغو نه شي ترلاسه کېدی، چې د درکړې څوک يې نه وي.

علم ـــــــــ د جذباتو اظهار دی، نو له تعلق پرته نه شي کېدلی.

تعلیم د ضرورت علم دی.

د ضرورت علم یو شی دی او د علم ضرورت یو بل شی.

☆☆☆

په رښا کې سپورمۍ نه وي او په سپورمۍ کې رښا نشته.

deenodanish.com له څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

☆☆☆

کومې اوزې چې په خوب کې د زمري زیارت وکړ، د هغې د روغتیا څه پوښتنه؟

☆☆☆

اسلامي ټولنه، د مسلمانانو د ژوند دود نوم دی.

☆☆☆

د خپل ولس له حاله تر بې خبره پاچا بهتره دی، هغه شپون چې د خپلې رمې له حاله خبر وي.

☆☆☆

په ځان د نورو مسلمانانو د را ماتولو لپاره د خپلو مشاهداتو بیانوونکی انسان دروغجن دی.

☆☆☆

تاسو چې په خپل ذاتي کاینات کې خدای ته څومره برخه ایښې ده، د الله په کایناتو کې هم ستاسې هماغومره ده.

☆☆☆

تر دې لویه بدمرغي څه کېدلی شي، چې مور د خپل تاریخ ځینې پېښې ان یادولی هم نه شو. راتلونکی مؤرخ، چې له مور وروسته بـه راځـي، اورومـرو بـه د هغو پېښو یادونه کوي. په دې یادونه کې به زمور ذکر هـم کـېږي ـــــ تاسو پوهېږئ، چې راتلونکی مؤرخ به ستاسو په اړه څه وایي؟

☆☆☆

د هغه زوی به څه یادونه وي، چې د خپل پلار په نوم پېژندل کېږي.

☆☆☆

هر کس د نورو د ژوند تعریفونـه کـوي او خپـل ژونـد تېـروي. هـېڅ باشـعوره

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

انسان له خپل ژونده تېرېدو ته چمتو نه دی.

☆☆☆

علم دومره ترلاسه کړئ، چې په ژوند کې مو په کار راشي. علم هماغه دی، چې عمل پرې وشي. که نه، هسې یو اضافي بوج دی.

☆☆☆

دروغجن او بدمرغه هغه مرید دی، چې یو انسان خپل مرشد ومني او له هغه وروسته یې په خلاف غږېږي. د خپل استاد په خلاف غږېدونکی انسان له علم څخه بې برخې کېږي.

☆☆☆

هغه انسان چې نړۍ خندوي، په یوازیتوب کې ژاړي.

☆☆☆

له بدمزاجه انسان سره مینه وکړئ، کردار به یې بدل شي.

☆☆☆

د سفر له ذوق پرته یوه لاره هم نه اسانېږي.

☆☆☆

د کوم شخص چې په خپل وطن کې محبوب نه وي، هغه له وطن سره مینه نه شي کولی.

☆☆☆

که انسان ناڅاپه نظرِ کامل وموميِ، نو له وېرې به لېونی شي، چې وګوري، د ځمکې غېږه څه ډول له انساني سکلېټونو څخه ډکه ده. دغه ورانې یو وخت ودانې وې، دغه ودانې به هم یو وخت ورانې شي. دې نړۍ ته څوک، څوک

نه دي راغلي، دلته څه او څه نه دي شوي ــــــــ

دلته څومره ښېرازه باغونه رژېدلي دي

☆☆☆

هغه شی چې بې سواله دې کړي، هغه شی لاجوابه وي.

☆☆☆

عقیدت دې چې کامل وي، نو پیر هم کامل وي.

☆☆☆

د کوم سړي چې د راتلو خوشالي نه وي، د هغه به د تلو څه غم وي.

☆☆☆

که په خواري کې خوند نه مومئ، نو پایلې ته یې انتظار یو تکلف دی.

☆☆☆

وحدت الوجود علم نه دی، مشاهده ده.

☆☆☆

هر مخ، یوازې یو مخ دی.

☆☆☆

غوره ده چې ګناه ونه کړئ، او هېڅ کله په خپله ګناه کوم انسان شاهد مه نیسئ.

☆☆☆

د خپل محسن پر ذات د خبرو په ځای، د هغه احسانات بیان کړئ.

☆☆☆

عالم د دې لپاره مغروره دی، چې په ډېر څه پوهېږي. دانا د دې لپاره غلی

له deenodanish څخه ښکته شوی

دی، چې لا هم په ډېر څه پوهېدل غواړي. علم، په معلوم نازونه کوي؛ دانايي په نامعلوم باندې په پوهېدو پسې سرګردانه ده. عالم چې د ناپوهي احساس وکړ، هله د دانايي په ځمکه قدم ايښودلی شي.

☆☆☆

حقيقت د هينداړې د عکس په څېر دی. چې ور نږدې شې، در نږدې شي. چې تړې لرې شې، درنه لرې شي. چې له مخې يې اخوا شې، دی هم اخوا شي.

☆☆☆

مورِ پخواني خلک يادوو او په اوسنيو خلکو کې ژوند کوو. مورِ له ماضي معيار را اخلو او هڅه کوو، خپل حال په هغه معيار برابر کړو. مورِ سکون څنګه موندلی شو؟ هغوی تللي دي، هغه زمانه تېره ده. د هغې ياد به مو حال، بدحاله کړي.

☆☆☆

کوم انسان چې د خدای په لور څومره عروج ترلاسوي، هماغومره يې د انسانيت د خدمت دايره پراخېږي. عمودي سفر، له افقي سفر سره په تناسب کې وي. صاحبِ معراج خو هم رحمة للعالمين دی.

☆☆☆

زړه دې چې غمجن وي، ودان ښارونه به درته هديرې ښکاري. زړه دې خوشاله وي، په هديره کې هم جشن نمانځلی شې. ژوند د فکر نوم دی. د فکر او عقيدې اصلاح پخپله د ژوند اصلاح ده. زمورِ زياتره جشنوارې زمورِ د عقيدت او عقيدې اظهار وي. هره مېله، د يوه نه يوه عارف، تلين وي. د دروېشانو د مړينې ورځ هم د مېلې ورځ وي.

☆☆☆

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د انسانانو په پراخه سمندر کې هر سړی د یوې تنها جزیرې په څېر دی.

☆☆☆

فقر او د ګټې او تاوان د فکر شتوالی په یوه وخت کې په یوه انسان کې داسې ناشونی دی، لکه د چیچک د ناروغ د مخ ښکلا.

☆☆☆

خندېدونکي له ژړېدونکي وپوښتل «ولې ژاړې؟» په ځواب کې یې ورته وویل «ته ولې خاندې؟» هغه وویل «ماته ستا په ژړا، خندا راځي.» دې بل ژور اسوېلی وکېښ ویې ویل «ماته خو همدا ستا په خندا ژړا راځي.»

☆☆☆

د هغه ړوند به څه علاج وشي، چې ګام په ګام نوک وهي او تیار نه دی، چې خپل ړوندوالی ومني.

☆☆☆

تر ټولو لویه پوښتنه هغه ده، چې ځواب یې پخپله له پوښتونکي سره وي.

☆☆☆

د یو چا د حق تر غصبولو وروسته، له زړه څخه د وېرې او اندېښنې وتل ناشونی دی. اندېښنه د انسان د عروج په لاره کې بې وسه کوونکی خنډ دی.

☆☆☆

په قوم کې د وحدت د شعور د پیدا کولو په پار دې په هر ښوونځي کې سندهي، پښتو او پنجابي ژبې لازمي وګرځول شي. [لیکوال د خپلې ټولنې خبره کړې؛ ژ] د انګریزي ښوونځیو او ديني مدرسو نصاب دې یو رنګ شي. که نه هماغه څه به روان وي، چې دا اوس روان دي.

له deenodanish څخه ښکته شوی

☆☆☆

خپل شاوخوا خلکو ته په غور ځير شئ. دوی ستاسو د کردار شاهدان دي. سبا ورځ به همدوی ستاسو په ملاتړ او يا ستاسو په خلاف شاهدي ورکوي. ان تر دې چې ستاسو د کور په ظاهره ګونګی ملازم به هم سبا ورځ په فصيح بياني او روان لساني ګويا وي. ستاسو له کوره تش لاس ستون شوی اجنبي محتاج سوالګر به مو په سکون توغندوي در واروي. ډېره وړه پېښه هم هېڅ کله وړه مه ګڼئ.

☆☆☆

تر ټولو بد خواهش د هر انسان د خوشالولو او اغېزمنولو خواهش دی، او د دې خواهش سزا دا ده .... انسانان به نه متاثره شي او نه خوشاله.

☆☆☆

د رښتوني انسان درناوی نه کوونکی شخص دروغجن وي او د دروغجن درناوی نه کوونکی شخص ضرور نه ده، چې رښتينی وي.

☆☆☆

په حافظه کې خوندي پاتېدونکی علم موقتي وي. حافظه پخپله اوږدمهاله نه ده. تر ټولو ښه علم هغه دی، چې زړه ته کوز شي او په عمل کې ښکاره شي.

☆☆☆

دروښي په دې پيلېږي، چې بې ضرره شې او بشپړېږي په دې چې ګټه رسوونکی شې.

☆☆☆

دوکه: د يوه انسان داسې کار ته راضي کول دي، چې په پايله يې هغه خبر نه وي.

ظلم: له يوه شي څخه د هغه د فطرت خلاف استفاده.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خیانت: تر شخصي ګټو ملي ګټې قربانول.

منافقت: په یوه وخت کې د مومنانو او کافرانو په منځ کې د منل کېدو خواهش.

له انجامه بې غمي: په خپلو ګناهونو ویاړل.

حماقت: خپل ځان تر ټولو بهتر ګڼل.

درواغ: خپل ځان تر ټولو کم ګڼل.

ګمراهي: له «تسلیم او تحقیق» دواړو سره نابلدتیا.

تضاد: د سولې په خاطر جګړه کول یا د انسانیت د خدمت په نوم انسانان له منځه وړل.

☆☆☆

هېڅ شېبه بېرته نه راګرځي، هېڅ ورځ بېرته نه شي راتلی. نه د زوکړې ورځ راګرځي نه د وصال ورځ .... د ورځو د نمانځنې تصور .... د غور وړ دی.

☆☆☆

خپل مزار د همدې ژوند په اوږدو کې رڼا کېږي. نېک اعمال په ژوند کې سکون او اطمینان پیدا کوي او تر مرګه وروسته د قبر څراغ جوړېږي او رڼا جوړوي. د خپلو صفاتو او د خپل کردار خوشبویي تر مرګه وروسته هم دوام کوي. په کومو زیارتونو چې خوشبویي او څراغونه وي، د هغوی ژوند به اومرو د نېکي او خیر ژوند وو. هغه چې په مزارونو یې ګنبذې ښکاري، هغوی په خپل ژوند کې لا د حجاز د لارې خاک ګرځېدلي وي. په سترګو کې یې د مدینې خاوره او د نجف رانجې ایښې وي. په دې خلکو دې سلام وي.

☆☆☆

د ګلاب نوم د خوشبویي په وزرو سفر کوي. ګلاب، ذات دی او خوشبویي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

صفت. ذات د خپلو صفاتو له مخې پېژندل کېږي.

☆☆☆

بدمرغه انسان د خپل حال لپاره راتلونکی قربان کړی وي. احمق انسان د راتلونکي لپاره خپل حال قربان کړی وي. باهدفه انسان د خپل راتلونکي او اخرت له ساتنې سره، سره له حاله خوند اخلي. په دې دنیا کې غوره ژوند او په اخرت کې غوره پایله ـــــ دېر د بخت خبره ده.

☆☆☆

بینایي چې کمزورې شي، د څېرې څراغونه تت شي.

☆☆☆

هغه انسان د روح له کنډوالې نه شي وتلی، چې د مور او پلار ادب یې ونه کړ او له خپلو اولادونو سره یې مینه نه وه.

☆☆☆

داسې مېلمستیا ته ورتګ څه ګټه چې په نه ورتلو دې د مېلمستیا په عمومي کیفیت هېڅ ښکاره اغېز نه وي.

☆☆☆

د ژوند د ښه دور په اړه چې له خلکو وپوښتئ، ځواب به در کړي، چې ښه زمانه یا تېره شوې ده یا لا راغلې نه ده، حال دا چې ښه دور هغه دی، چې دا نن تېرېږي.

☆☆☆

دوست او دشمن د انسان د خپلې خوښې او ناخوښې اظهار دی. مینه، نفرت، د انسان د خپل مزاج برخې دي. هغه انسان چې ټول سره مینه، مینه وي، په دنیا کې هېڅ د نفرت وړ انسان تر نظر نه ورځي. له مینې ډکو سترګو

ته د محبوب مخ په برخه کېدل فطري دی. همدا زمور نظر یوې منظرې ته ښکلا وربښي. همدا زمور زړه د دلبرانو اسرار وي. زمور خپل خوند خواړه خوندور کوي. خپل حقیقت ولټوئ، د کایناتو حقیقتونه به در باندې روښانه شي. له ځانه تېښته، له خدایه تېښته ده. ځان پېژندنه، خدای پېژندنه ده. خپله اوربدنه مو اصلاح کړئ. د یار اواز په هر حال کې شته. د نظر پېرزو کوونکی په منظرو کې نغښتی دی. مور چې د چا لپاره یو، هماغه زمور لپاره دی. دنیا یا آخرت، ماده یا روح، ظلمات یا نور، پربکړه به مور کوو. له اسمانه نور راځي. مړی له ځمکې پیدا کېږي. د ځمکې او اسمان ترمنځ اړیکه زمور له برکته ده. انکار او اقرار زمور خپل نومونه دي. لوړتیا او ژورتیا زمور خپل مقامونه دي. مور پخپله له ځانه ورک یو، خپل ځان ولټوئ.

☆☆☆

عاقبت هغه وخت ته ویل کېږي، چې محسن د خپلو احساناتو حساب وغواړي.

☆☆☆

زور، وېره زېږوي، وېره کینه زېږوي، کینه سرکښي زېږوي او سرکښي، زور له منځه وړي!!

☆☆☆

تر څو چې ژوند وي، د نېکي او بدي وجود به هم وي. بدي له منځه وړل، ناشونی او نامناسبه دی. بدي به د نېکي له برکته اصلاح کېږي. د بدي په سیند کې ډوبېدونکي د نېکي ساحل ته راوستل اخر هم د نېکي انتهایي کار دی او دغه عمل له خواخوږی او مینې پرته ناشونی دی. د نېکي مزاج د مهربانه مور او پلار په څېر دی او د بدي مزاج د باغي او سرکښ اولاد په څېر!

☆☆☆

له خپل مېرې څخه خپل غلام جوړونکې ښځه اخر د یوه غلام ښځه بلل

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کېږي. هوښیاره ښځه له خپل مېړه دېوتا جوړوي او پخپله دېوي بلل کېږي.

☆☆☆

ویښوونکی غم، تر غافلوونکې خوښۍ په درجو، درجو بهتر دی.

☆☆☆

د خپل دین له رښتینولۍ لښته مه جوړوئ. د خپل دین رښتینولي کوربه کړئ او د نورو ادیانو رښتینولي در مېلمنه کړئ. د نورو د یقین ذوق په هغوی کې هم هماغه یا هغسې کیفیت ته لاره جوړوي، چې ستاسو د یقین ذوی یې تاسو کې جوړوي. لوی دین یا ډېر رښتینی دین، د لوی سیند په څېر وي، چې ټول لښتي او ویالې له ځان سره مله کوي او له سمندر سره یې یو ځای کوي. سیندونه یو بل ته غېږه ورکوي، جګړې نه کوي.

☆☆☆

کوم ذات چې مورِ له حسن سره ټرو، هماغه محبوب دی. د عاشق او معشوق اړیکې ته عشق ویل کېږي. که حسن ته د نړدېکت هیلې ته مینه وویل شي، نو د مینې انتها دا ده، چې د محبوب رضا زمورِ رضا وګرځي، بلکې محب د خپل ځان صفات له منځه وړل او د محبوب په صفاتو کې ژوند کول د مینې معراج ګڼي. محب ناکراره وي، د محبوب قرب ته. د هغه د اوامرو او نواهیو فکر ورسره وي. د هغه دښمن د ځان دښمن ګڼي. د هغه په هستۍ کې د فنا کېدو احساس بقا ور ښکاري. حقیقي مینه د صفاتو په مټ ودانه وي. حقیقت له مجازه جلا دی. په مجاز کې رقیب دښمن دی، د حقیقت په سفر کې رقیب نړدې دی او همسفر دی.

☆☆☆

که زمورِ برخه ټاکل شوې وي، نو ګناه څه ده؟ که ګناه تقدیر وي، نو د ګناه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

به هېڅ کله سزا نه وی. یوه غله له باغه مېوه غلا کړه، ونیول شو. ویې ویل: «د الله په امر، د الله بنده، د الله له باغه مېوه ور ماته کړې.» څښتن ځواب ورکړ: «د الله په بل امر، د الله بل بنده، د لومړني کس په سر د لښتې د وهلو حق لري. چې غلا امر وي، نو د لښتې او سر ملاقات هم امر دی.»

☆☆☆

له زمانه او مکانه بې نیازه د جهانونو د خالق تسبیح ویونکي په حقیقي معنا د الهي خلافت مستحق ګڼل کېدلی شي.

☆☆☆

له تاریخي ودانیو او شاهي مانیو زر و ګانه غلا کوونکي نه هغسې ودانۍ جوړولی شي، نه هغسې مانۍ. ستوري په اسمان ښکلي ښکاري. مضمون له فقرو نه جوړېږي، فقرې له مضمونونو را توکېږي.

☆☆☆

د داسې علم څه ګټه، چې صاحبِ علم ته سکون ورنه کړي او نه یې اړتیاوې پوره کړای شي. له داسې علمه د نجات دعا پکار ده.

☆☆☆

پاچا که د دروېش قرب وغواړي، د پاچا خوش بختي ده. دروېش که د پاچا تقرب وغواړي، د دروېش بدبختي.

☆☆☆

څوک چې د مرګ په راز پوه شو، هغه د ژوند له انقلابونو څخه نه اغېزمنېږي او څوک چې د ژوند په راز پوه شو، هغه د مرګ له تېټ و ژورو نه ناهیلی کېږي. چا چې خپل حقیقت وپېژانده، هغه په حقیقت پوه شو.

☆☆☆

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

فقیر، د الله د ذات د اثبات هڅه نه کوي. هغه پوهېږي، چې د لمر ثبوت یوازې هغه سترګه ورکولی شي، چې بینایي ولري.

☆☆☆

زمونږ ژوند د کوهي د چونګښو په څېر په ټاکلې دایره کې را څرخېږي. مونږ د انسانانو له یوه ټاکلي شمېر سره اشنا یو. زمونږ ژوند له ټاکلو خوښتونو تېرېږي. زمونږ علم محدود دی. مونږ په کتابتون کې ټول عمر تېرولی شو، خو کتابتون نه شو لوستلی. مونږ د خپل کور د ټولو افرادو په هکله هم بشپړه اګاهي نه لرو. د کلي له کورونو، د ښار له کلیو، د هېواد له ښارونو، د نړۍ له هېوادونو او د کاینات له نړیو به څنګه اګاه شو او بیا د کاینناتو خالق زمونږ د علم په ساحه کې نه شي راتلی. بس هغه څه دی، یوازې هغه پوهېږي. فَتَبَارکَ اللهُ اَحسنُ الخَالقِین.

☆☆☆

تقدیر، د تدبیر ماتوونکی دی؛ مقدر هغه دی، چې حتمي به کېږي. خوش بختي هغه لاسته راوړنه ده، چې له حق نه ډېره وي؛ عبرت د بدو کړنو پایله ده او توبه مو د اعمالو له عبرته ژغوري.

☆☆☆

خلک خو ان زمونږ په خوشالیو کې نه راشریکېږي، په غم کې به څوک را شریک شي.

☆☆☆

د مؤمن د خوشالۍ څراغ چې ګل شي، د کافر په کور کې د غوړیو څراغونه روښانه شي.

☆☆☆

اسلام د مسلمانانو د علم نوم نه دی. د هغوی د عمل نوم دی، یانې اسلام

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د کولو خبره نه ده، د کولو کار دی.

☆☆☆

په سترګو هر لیدل کېدونکی شی محسوسېدلی نه شي. هر محسوسېدونکی شی په سترګو لیدل کېدلی نه شي.

☆☆☆

په یوه تخم کې څومره لویه ونه وي. په ونه کې څومره تخمونه وي. ګواکې په یوه تخم کې بې شمېره تخمونه وي او همدا راز په یوه ونه کې بې شمېره ونې وي. د غور خبره ده. په څاڅکي کې سمندر او په سمندر کې څاڅکي.

☆☆☆

د کوم انسان چې په زړه کې رڼا نه وي، هغه به د څراغونو له مېلې څه ترلاسه کړي؟

☆☆☆

مور خپل اولادونه په ډېر څه پوهول غواړو، خو هغوی نه پوهېږي. زمور اولاد هم مور په ډېر څه پوهول غواړي، خو مور نه پوهېږو.

☆☆☆

کوم انسان چې په ژوند کې ربښتینی مرشد ونه مومي، دې دروغجن مرید ته بدمرغه ونه وایو، څه ورته ووایو؟

☆☆☆

تېره شوې زمانه د انسان په څېره ډېر څه پرېږدي. د مسافر په مخ د سفر ګردونه د هغه د سفر حال بیانوي.

☆☆☆

پای

۱۶ سپتمبر، ۲۰۲۳

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish